# د لمانځه کتاب

مشهور په

# کامل لمونځ

مؤلف: مولوی عبیدالله

مترجم: محمد رسول سعید



صداقت خپرندویه ټولنه

# دلمونځ کتاب

مشهورپه

# کامل لمونځ

مؤلف

مولوي عبيدالله

صداقت کتب خانه ارگ بازار کندهار

د چاپ حقوق په خپرندویه ټولنه اړه لري

## د کتاب پېژندنه


- د کتاب نوم :: دلمونځ کتاب
- مؤلف :: مولوي عبيدالله
- ژباړن :: محمد رسول سعيد
- خپرندوی :: صداقت خپرندويه ټولنه، کندهار
- کمپوز او ډيزاين :: صداقت خپرندويه ټولنه، کندهار
- کمپوزر :: ژباړن
- چاپکال :: ۱۳۸۹ ش - ۱۴۳۱ ق
- دچاپ وار پنځم
- چاپشمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

**پته**

صداقت کتب خانه

ارګ بازار، کندهار - افغانستان

**اړيکي**

۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

## دلوستونکو د پام وړ

څرنگه چې د صداقت کتب خانې د تخنیکي څانگې لخوا ډېر کوښښ سوی دئ چې دا کتاب د هرډول غلطیو څخه پاک او لوستونکو ته یې وړاندي کړي خو بیا هم انسان عاجز او د غلطیو څخه خالي نه دئ نو که چیري تاسو ته کوم حرف زاید ،کم او یا نیم په نظر درسي نو د مهربانۍ له مخي یې اصلاح او موږ ته اطلاع راکړي چې په اینده. چاپونو کي یې مخنیوي وکړو.

او که چیري د جلد بندي په وخت کومي صفحې مخ او یاهم شاته سوي وي نو کولاي سي چې په لاندي ادرس یې راولېږي او په بدل کي یې بله اصلاح سوې نسخه تر لاسه کړي. چې په دې صورت کي به مو هم خپله ایماني وجیبه سر ته رسولې وي ،او هم به مو موږ د احسان پوروړي یو.

په درنښت

صداقت کتب خانه

# فهرست



| صفحه | مضمون | شمیر |
|---|---|---|
| ۱ | ایمان مفصل | ۱ |
| ۲ | ایمان مجمل | ۲ |
| ۲ | کلمه طیبه | ۳ |
| ۳ | کلمه شهادت | ۴ |
| ۳ | کلمه تمجید | ۵ |
| ۴ | کلمه توحید | ۶ |
| ۵ | کلمه استغفار | ۷ |
| ۶ | کلمه رد شرک | ۸ |
| ۸ | د لمانځه وختونه | ۹ |
| ۱۱ | یو څو ضروري مسائل | ۱۰ |
| ۱۴ | د غسل بیان | ۱۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | د اوداسه بیان | ۱۹ |
| ۱۳ | تیمم | ۲۴ |
| ۱۴ | دلمانځه بیان | ۲۴ |
| ۱۵ | مکروه وختونه | ۳۷ |
| ۱۶ | مکروه ځایونه | ۳۸ |
| ۱۷ | اذان | ۳۸ |
| ۱۸ | د لمانځه اذان | ۳۹ |
| ۱۹ | د اذان او اقامت جواب | ۴۳ |
| ۲۰ | د رکعتونو نقشه | ۴۶ |
| ۲۱ | د لمانځه څو مسئلې | ۴۶ |
| ۲۲ | د لمانځه ترکیب | ۵۵ |
| ۲۳ | دنیت دعاء | ۵۶ |
| ۲۴ | دلمانځه شروع | ۵۶ |
| ۲۵ | مکمل لمونځ | ۵۷ |
| ۲۶ | د لمانځه وروسته خصوصي اذکار | ۶۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۷ | د دعاء غوښتلو بيان | ۶۹ |
| ۲۸ | د وتر لمونځ | ۷۱ |
| ۲۹ | دعاء قنوت | ۷۲ |
| ۳۰ | آية الكرسي | ۷۴ |
| ۳۱ | د تراويح لمونځ | ۷۵ |
| ۳۲ | تسبيح تراويح | ۷۶ |
| ۳۳ | د جنازې لمونځ | ۷۷ |
| ۳۴ | هديرې ته دننوتلو دعاء | ۸۱ |
| ۳۵ | د مړي په قبر کي ايښودلو دعاء | ۸۱ |
| ۳۶ | د اخترو لمونځ | ۸۵ |
| ۳۷ | د جمعې لمونځ | ۸۷ |
| ۳۸ | نفل لمنځونه | ۸۸ |
| ۳۹ | په کومو صورتو کي سجده سهوه لازميږي | ۹۲ |
| ۴۰ | مسنونه دعاء | ۹۵ |
| ۴۱ | مسجد ته د داخليدو دعاء | ۹۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۲ | د مسجد څخه د وتلو دعاء | ۹۵ |
| ۴۳ | د اوداسه شروع کولو دعاء | ۹۶ |
| ۴۴ | د اوداسه په مابین کي دعاء | ۹۶ |
| ۴۵ | د اوداسه وروسته دعاء | ۹۶ |
| ۴۶ | د اذان وروسته دعاء | ۹۷ |
| ۴۷ | د روژي نیولو نیت | ۹۸ |
| ۴۸ | د روژي ماتولو دعاء | ۹۸ |
| ۴۹ | د بیدیدلو په وخت کي دعاء | ۹۹ |
| ۵۰ | د خوب څخه دراکښینستلو دعاء | ۱۰۲ |
| ۵۱ | بیت الخلاء ته دتللو دعاء | ۱۰۲ |
| ۵۲ | د بیت الخلاء څخه دوتلو دعاء | ۱۰۳ |
| ۵۳ | د سهار او ماښام دعاء | ۱۰۳ |
| ۵۴ | د فرض لمانځه وروسته دعاء | ۱۰۴ |
| ۵۵ | د وتر لمانځه وروسته دعاء | ۱۰۵ |
| ۵۶ | د څاښت لمانځه وروسته دعاء | ۱۰۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۸۷ | د پوره میاشتي لیدلو دعاء | ۱۲۳ |
| ۸۸ | د ښځي سره دنکاح دعاء | ۱۲۴ |
| ۸۹ | زوم ته دواده مبارکی دعاء | ۱۲۵ |
| ۹۰ | دښځي سره دهمبستری دعاء | ۱۲۵ |
| ۹۱ | د انزال وخت دعاء | ۱۲۶ |
| ۹۲ | د مشوري کولو دعاء | ۱۲۶ |
| ۹۳ | د استخارې دعاء | ۱۲۷ |
| ۹۴ | د نکاح خطبه | ۱۲۹ |
| ۹۵ | د جمعې اولنی خطبه | ۱۳۰ |
| ۹۶ | د کوچني اختر خطبه | ۱۳۳ |
| ۹۷ | د لوی اختر خطبه | ۱۳۶ |
| ۹۸ | دوهمه خطبه | ۱۴۰ |
| ۹۹ | سورة السجده | ۱۴۳ |
| ۱۰۰ | د سورة یس فضائل | ۱۴۹ |
| ۱۰۱ | سورة یس | ۱۵۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | د اشراق لمونځ | ۸۸ |
| ۱۳ | د ځابنت لمونځ | ۸۹ |
| ۱۴ | د اوابین (توبه ګارو) لمونځ | ۸۹ |
| ۱۵ | صلوة تسبیح | ۸۹ |
| ۱۶ | سجدهٔ سهوه | ۹۱ |
| ۱۷ | د استخارې لمونځ | ۱۲۷ |
| ۱۸ | د استسقاء لمونځ | ۱۸۴ |
| ۱۹ | د کسوف او خسوف لمونځ | ۱۸۵ |
| ۲۰ | د حاجت لمونځ | ۱۸۶ |
| ۲۱ | د سفر لمونځ | ۱۸۷ |
| ۲۲ | د تحیة المسجد لمونځ | ۱۸۹ |
| ۲۳ | د تحیة الوضوء لمونځ | ۱۸۹ |
| ۲۴ | د خوف لمونځ | ۱۸۹ |
| ۲۵ | د سفر د لمانځه ضروري مسئلې | ۱۸۸ |
| ۲۶ | د استسقیٰ دعا | ۱۸۴ |

| | | |
|---|---|---|
| ۵۷ | د کور څخه د وتلو دعاء | ۱۰۸ |
| ۵۸ | کور ته د داخلیدلو دعاء | ۱۰۸ |
| ۵۹ | بازار ته د داخلیدلو دعاء | ۱۰۹ |
| ۶۰ | د رانیولو او خرڅولو دعاء | ۱۱۰ |
| ۶۱ | د سفر دعاء | ۱۱۰ |
| ۶۲ | د سفر روانیدو وخت دعاء | ۱۱۱ |
| ۶۳ | د سپرلۍ دعاء | ۱۱۱ |
| ۶۴ | د طیارې یا کښتۍ دعاء | ۱۱۲ |
| ۶۵ | منزل ته د رسیدو دعاء | ۱۱۲ |
| ۶۶ | د سفر څخه د واپسۍ دعاء | ۱۱۳ |
| ۶۷ | د خوراک او څیښاک دعاء | ۱۱۳ |
| ۶۸ | د بسم الله ویلو فائده | ۱۱۴ |
| ۶۹ | د خوراک وروسته دعاء | ۱۱۴ |
| ۷۰ | د دعوت خوړلو وروسته دعاء | ۱۱۴ |
| ۷۱ | د کور به د کور څخه د وتلو وخت دعاء | ۱۱۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۷۲ | د مطالعې وروسته دعاء | ۱۱۵ |
| ۷۳ | د یو مصیبت په وخت کې دعاء | ۱۱۶ |
| ۷۴ | د دښمن څخه د خوف وخت دعا | ۱۱۶ |
| ۷۵ | د مریض دعیادت وخت دعاء | ۱۱۶ |
| ۷۶ | د باران دعاء | ۱۱۷ |
| ۷۷ | د قرض د اداکیدو دعاء | ۱۱۷ |
| ۷۸ | د شب قدر دعاء | ۱۱۸ |
| ۷۹ | د مجلس څخه د ولاړیدو دعاء | ۱۱۹ |
| ۸۰ | د محبوب شي دلیدلو دعاء | ۱۱۹ |
| ۸۱ | احسان کونکي ته دعاء | ۱۲۰ |
| ۸۲ | د نوږلو په وخت کې دعاء | ۱۲۰ |
| ۸۳ | د کالو اغوستلو دعاء | ۱۲۱ |
| ۸۴ | په هنداره کې دکتلو دعاء | ۱۲۱ |
| ۸۵ | د صحت دعاء | ۱۲۲ |
| ۸۶ | د نوي میاشتي لیدلو دعاء | ۱۲۲ |

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اسلام بنيادي عقيدې

# ايمان مفصل

| |
|---|
| اٰمَنْتُ بِـاللهِ وَ مَلٰئِكَتِهٖ وَ كُتُبِهٖ |
| ما ايمان راوړی دی پر الله باندي د هغه پر ملائكو دهغه پر كتابو |
| وَ رُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ |
| دهغه پر رسولانو، پر ورځ دقيامت، او پر تقدير دښه |
| وَشَرِّهٖ مِنَ اللهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ |
| او بد چي دالله تعالی د طرفه دي او پر ژوندي كيدو |
| بَعْدَ الْمَوْتِ . |
| وروسته تر مرګ. |

# ایمان مجمل

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ كَمَا هُوَ بِاَسْمَآئِهٖ

ما ایمان راوړی دی پر الله باندې څنګه چې دی هغه د خپلو نومو

وَ صِفَاتِهٖ وَ قَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِهٖ وَاَرْكَانِهٖ

او صفتو سره دی، ما د هغه ټول احکام قبول کړي دي

اِقْرَارٌ بِاللِّسَانِ وَتَصْدِيْقٌ بِالْقَلْبِ ط

په ژبه يې اقرار او په زړه يې تصديق کوم .

# شپږ کلمې

## اوله کلمه طیبه

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

نسته لائق د عبادت مګر يو الله ، محمد ص د الله رسول دی

# دوهمه کلمه شهادت

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ

زه شاهدي ادا کوم چې نسته لائق دعبادت مګر يو الله يوازي

لَاشَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا

هغه لره هيڅ شريک نسته، او زه شاهدي ادا کوم چې محمد

عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ؕ

دهغه بنده او رسول دی.

# دريمه کلمه تمجيد

سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ

پاک دی الله او ټول تعريفونه الله لره دي او نسته لائق دعبادت

اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ

مګر يو الله، او الله ډير لوی دی، او نسته طاقت د ګناهو څخه دخلاصيدو

وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ط

او نه قوت دنیک کار کولو مګر دالله سره چي عالیشان او عظیم دي

# څلورمه کلمه توحید

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ

نسته لائق دعبادت مګر یوالله یوازي، نسته شریک ده لره

لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ

هغه لره بادشاهي ده، اوهغه لره ټول تعریفونه، هغه ژوندي کوي

وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ اَبَدًا اَبَدًا ط

او مړه کوي، هغه ژوندی دی او نه مړ کیږي همیشه.

ذُو الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ ط بِيَدِهِ الْخَيْرُ ط

خاوند دعظمت او بزرګۍ دی ښیګڼي دهغه په لاس کي دي

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ط

او هغه ذات پر هر څه باندي قدرت لرونکی دی.

## پنځمه کلمه استغفار

اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ رَبِّيْ مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ

زه بخښنه غواړم د الله څخه چې زما رب دی د هرې ګناه څخه

اَذْنَبْتُهٗ عَمَدًا اَوْ خَطَئًا سِرًّا اَوْ عَلَانِيَةً

چې ما کړې ده په قصد سره، په خطا سره او یا په ښکاره

وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ مِنَ الذَّنْبِ الَّذِيْ اَعْلَمُ

او زه توبه کوم وهغه ته ذهغه ګناهونو چې ما ته معلوم دي

وَ مِنَ الذَّنْبِ الَّذِيْ لَآ اَعْلَمُ اِنَّكَ

او دهغه ګناهونو چې ما ته معلوم نه دي، بیشکه

اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ وَسَتَّارُ الْعُيُوْبِ

ته ښه پوهه یې په پټو، او پټونکی یې دعیبونو

وَغَفَّارُ الذُّنُوْبِ وَلَاحَوْلَ

او بخښونکي یې د ګناهونو، نسته طاقت د ګناهونو څخه دخلاصیدو

وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ط

اونه قدرت پر نیکو مګر دالله څخه چي لوړ شان او عظمت والا دی

# شپږمه کلمه رد شرک

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنْ اَنْ اُشْرِكَ

الهي زه پناه غواړم په تاسره ددې څخه چي شریک نه کړم

بِكَ شَيْئًا وَّاَنَا اَعْلَمُ بِهٖ وَاَسْتَغْفِرُكَ

ستاسره هیڅ یوشی، او زه په هغه خبر یم، او زه بخښنه غواړم

لِمَا لَا اَعْلَمُ بِهٖ تُبْتُ عَنْهُ وَ

دهغه ګناهوچي زه نه یم په خبر، ما دهغو څخه توبه وکښل او

تَبَرَّاْتُ مِنَ الْكُفْرِ وَالشِّرْكِ وَالْكِذْبِ

زه بېزاره سوم د کفر څخه، دشرک څخه، د درواغو څخه

وَالْغِيْبَةِ وَالْبِدْعَةِ وَالنَّمِيْمَةِ وَالْفَوَاحِشِ

دغیبت څخه، دبدعت څخه، د چغلګري څخه، د بې حیایي

وَالْبُهْتَانِ وَالْمَعَاصِيْ كُلِّهَا وَاَسْلَمْتُ

دتهمت لګولو څخه، او دهر ډول نافرمانيو څخه او ما ايمان راوړی

وَاَقُوْلُ لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ مُحَمَّدٌرَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

او زه وايم چي نسته لائق دعبادت مګر يوالله محمدص دالله رسول دی

# د لمانځه وختونه

## (۱) د سهار د لمانځه وخت

د سهار لمانځه ته فجر هم وايي ، دا د لمر ختلو څخه مخکي اداکيږي .

دسهار دلمانځه وخت د صبح صادق د ښکاره کيدو څخه شروع کيږي،چي دي ته فجر ثاني هم وايي ، صبح صادق هغه سپين والی دی چي دلمر ختلو څخه تقريبا يونيم ساعت مخکي د آسمان په کنارو کي خپريږي ،او نوموړی لمونځ تر هغه وخت پوري اداکيدلای سي تر څو چي لمر راخيژي .

## (۲) د ماپښين د لمانځه وخت

کوم لمونځ چي د زوال څخه وروسته ادا کيږي هغه ته دماپښين لمونځ وايي .

دما پښين د لمانځه وخت د لمــــــــر د زوال څخه

وروسته شروع کيږي، هر کله چي لمر يو مثل وي يعني يو تخته يا لرګی سيده ودرول سي او دهغه سايه دهغه تختې يا لرګي د اوږدوالي برابر سي نو هغه ته يو مثل وايي . نو دماپښين اخري وخت دامام اعظم ابوحنيفة رحمه الله تعالى په نزد دادی چي د هر شي سايه د اصلي سايې څخه ماسوا دوه برابره سي .

# (٣) دمازديګر دلمانځه وخت

د دريم لمانځه وخت مازديګر د ي ،

دغه لمونځ د لمر لويدو څخه يونيم ساعت مخکي کولای سي ، د ټولو فقهاؤ په نزد دمازديګر اول وخت د ماپښين د وخت دختميدو سره سم شروع کيږي او دمازديګر وخت دلمر لويدو څخه مخکي وي او کوم وخت چي لمر ولويږي نو دماښام لمونځ

شروع کيږي .

# (۴) د ماښام د لمانځه وخت

څلورم لمونځ دماښام لمونځ دی .

دماښام لمونځ د لمر لويدو څخه شروع کيږي ، او بيا تر هغه وخته پوري ادا کيدلای سي چي شفق پټ سي ، د امام صاحب په نزد شفق هغه سپين والی دی چي دماښام په وخت کي دسرخی څخه وروسته د آسمان په کنارو کي معلوميږي ، امام ابويوسف او امام احمد رح دې سرخی ته شفق وايې .

# (۵) د ماخستن د لمانځه وخت

پنځم لمونځ دماخستن دی .

دماخستن لمونځ يونيم ساعت يا دوه ساعته تر لمر لويدو وروسته شروع کيږي بيا د شپې تر آخر

يعني صبح صادق راختلو پوري .

وتر لمونځ تر دريمې حصې دشپې پوري ځنډول مستحب دي .

# دجمعې دلمانځه وخت

د جمعې دلمانځه هغه وخت دی کوم چې د ماپښين دلمانځه وخت دی .

# داخترو دلمانځه وخت

د اخترو د لمنځو وخت د لمر ختلو څخه نيم ساعت وروسته شروع کيږي بيا تر زوال پوري .

# يو څو ضروري مسائل

د اسلامي شريعت د احکامو مختلف درجات دی چي دهغو پيژندل ضروري دي ، د هغو دپيژندلو بغير د لمانځه دفساد او ضحت علم نسي کيدلای

د درجه بندۍ دلحاظه د شريعت اته حکمونه دي ځکه چي هر قول او فعل يا خو جائز دی يا ناجائز،

که جائز وي نو هغه به ددې پنځه قسمو څخه وي :

(۱) فرض (۲) واجب (۳) سنت (۴) مستحب (۵) مباح

او که ناجائز وي نو دهغه درې قسمه دي :

(۱) حرام (۲) مکروه (۳) مفسد

**فرض** : فرض هغه ته وایې چې په داسي قطعي دلیل سره ثابت وي چې په هغه کښې هیڅ شك وشبه نه وي ، دفرض په پاته کیدو سره لمونځ نه کیږي .

**واجب** : واجب هغه دي چې په داسي دلیل سره ثابت وي چې دهغه ثبوت خو قطعي وي لیکن دهغه مراد قطعي نه وي ، د واجب په پریښودلو سره سجده سهوه لازمیږي .

**سنت** : سنت هغه دي چې پر هغه باندي رسول الله صلی الله علیه وسلم همیشه توب اختیار کړې وي خو یو ځل یا دوه واره یې هغه پرې ایښي هم وي . دسنت حکم دادی چې ددې په ادا کولو کښې ثواب

او په پرېښودلو سره ګناهکاره کېږي خو لمونځ يې صحيح دي ، سجده سهوه هم نه واجبيږي خو دعمل ثواب يې کميږي .

**مستحب** : مستحب هغه دي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم کله کړي وي او کله يې پرې ايښي وي او بزرګانود دين هغه اختيار کړي وي ، دمستحب په کولو سره دعمل ثواب زياتيږي خو په پريښودلو سره نه ګناهکاره کيږي.

**مباح** : مباح هغه ته وايې چي دهغه په کولو او پريښودلو کښې څه ثواب او عذاب نه وي .

حرام : حرام هغه دي چي په هغه کښې ممانعت په قطعي دليل سره ثابت وي ، حکم يې دادی چي دحرام په پريښودلو کښې ثواب دی او په کولو کښې يې عذاب دی او حرام شی حلال او جائز ګڼل کفر دی .

**مکروه** : مکروه هغه دی چي دهغه ممانعت په فکري دلیل سره ثابت وي ، مکروه پردوه قسمه دی :

(١) **مکروه تحریمي** : هغه دی چي حرام ته نژدي وي ، حکم یې دادی چي پهٔ نهٔ کولو سره یې ثواب او په کولو سره یې عذاب ورکول کیږي .

(٢) **مکروه تنزیهي** : هغه دی چي د کولو څخه یې پریښودل ښه وي .

**مفسد(فاسد)** : مفسد هغه دی چي د یوجائز عمل ماتونکي وي ، دمفسد حکم دادی چي په قصداً کولو سره عذاب او په هیره کولو سره یې عذاب نسته .

# د غسل احکام

الف : غسل په شپږو شیانو سره فرض کیږي

١ د ښځي سره په کوروالي کولو . ٢ په خوب کښي یا په ویښه د شهوت له امله په زور سره مني وتل .

٣ ښځه چي د حيض څخه پاکه سي .

۴ ښځه چي د نفاس څخه پاکه سي.

۵ دنارينه وړاندينى اندام چي د ښځي په وړانديني اندام کښي داخل سي، که مني ووزي او که نه .

۶ د مړه او يا حيوان سره په بدکارۍ کولو سره چي هر کله مني خارج سي .

ب : په څلورو وختونو کي غسل کول سنت دى .

١ د جمعې مبارکي د لمانځه لپاره .

٢ د دواړو اخترونو دلمنځو لپاره .

٣ د حج د احرام تړلو څخه مخکي .

۴ په عرفات کي د وقوف کولو لپاره .

ج : په اوو وختونو کي غسل کول مستحب دي :

١ دبرات شپه يعني د برات د مياشتي په پنځلسمه شپه

۲ د عرفات په شپه کله چي نهمه شپه د ذي الحجې
وي .

۳ لمر یا سپوږمۍ چي تور سي .

۴ د استسقاء دلمانځه لپاره .

۵ مکې مکرمې یا مدینې منورې ته دننوتلو لپاره .

٦ مړي ته دغسل ورکولو څخه وروسته .

۷ د یو کافر دمسلمانیدو لپاره .

# دغسل فرائض

دغسل درې فرضونه دي :

۱ خوله پریولل .

۲ په پزه کي اوبه اچول .

۳ پر ټوله بدن باندي اوبه تویول چي یو ځای
هم وچ پاته نسي .

# د غسل سنتونه

د غسل پنځه سنتونه دي :

۱ د دواړو لاسونو پریولل تر مړوندو پورې.

۲ استنجاء کول او پر کوم ځای چې ظاهري نجاست وي هغه پریولل .

۳ د ناپاکۍ لیرې کولو نیت کول .

۴ د غسل څخه مخکې اودس تازه کول .

۵ پر ټوله بدن باندې درې واره اوبه تویول .

## د غسل په اړه څو احتیاطي خبرې :

۱ پر نوکانو باندې درنګ یا د بدن پر یو حصې باندې دیو داسې شی لګول چې هغه د اوبو رسولو مانع وي ضرور لیرې کول، که یو ویښته قدر ځای په ټول بدن کې وچ پاته سي نو غسل یې نه صحیح کیږي .

۲ غسل په داسې ځای کې کول پکار دي چې

هلته يو پرده وي او که ښکاره ځای وي نو بیا عورت پټول

پکار دي .

۳ د غسل کولو په وخت کي چي لوڅ وي د بل سړي

سره دي خبري نه کوي .

۴ پر يو لوړ ځای په ناسته سره دي غسل وکړي چي د

مردارو اوبو څاڅکي بدن او کالو باندي ونه لګیږي .

۵ غسل دي نه په زیاتو یخو اوبو سره او نه هم په

زیاتو تودو اوبو سره کوي .

۶ که يې ګوتمۍ په ګوته وي يا يې والي په غوږو

وي نو دغسل په وخت کي دي يې وښوروي تر څو

لاندي اوبه ورسيږي او که اوبه ونه رسيږي نو غسل

نه کيږي .

**پاملرنه** ! کومي ښځي چي د نوکانو رنګ استعمالوي او

دهغه رنګ په وجه لاندي اوبه نه رسيږي نو ددغسي کسانو

غسل نه صحيح کيږي .

# د اوداسه فرضونه

د اوداسه څلور فرضونه دي :

۱ د مخ پريولل : يعني د تندي د وريښتانو څخه تر زني لاندي پوري او ديوه غوږ د نرمۍ څخه د بل غوږ تر نرمۍ پوري .

۲ دواړه لاسونه تر څنګلو پوري پريولل .

۳ د څلورمي حصې د سر مسح کول .

۴ دواړي پښې تر بجلکو پوري پريولل .

## د اوداسه سنتونه

د اوداسه ديارلس سنتونه دي :

۱ نيت کول .

۲ بسم الله الرحمن الرحيم ويل

۳ درې واره دواړه لاسونه تر مړوندو پوري پريولل .

۴ مسواك وهل .

۵ درې واره په خوله اوبه لغړول .

۶ درې واره په پزه کي اوبه اچول .

۷ د ږیرې خلالول .

۸ د لاسو دګوتو خلالول .

۹ هر اندام درې درې واره پریولل .

۱۰ یو ځل د ټوله سره مسح کول .

۱۱ د دواړو غوږونو مسح کول .

۱۲ په ترتیب سره اودس کول .

۱۳ پرله پسې اودس کول چي یو اندام وچ سوی نه وي سمدستي دوهم پریولل .

## د اوداسه مستحبات

د اوداسه پنځه مستحبات دي :

۱ هر اندام د راسته خوا څخه شروع کول .

۲ د غاړي مسح کول .

۳ اودس پخپله کول ، د نورو څخه کومك نه اخیستل .

۴ د قبلي خواته په ناسته اودس کول .

۵ پر پاك او لوړ ځای باندي اودس کول .

## د اوداسه سنت طریقه :

په پاك لوښي کښي د اوبو رااخیستلو سره ذي پر یو پاك او صاف ځای مخ پر قبله کښیني .

لستوني تر څنګلو پوري را ولغړه، بیا بسم الله الرحمن الرحیم ووایه او دري واره لاسونه تر مړوندو پوري پریوله، بیا مسواك ووهه که مسواك نه وي نو دشهادت په ګوتي سره غاښونه ښه وموږه ، بیا دري واره په پزه کي اوبه واچوه او په چپه لاس پزه تك وهه ، بیا دري واره مخ پریوله پر مخ باندي اوبه په زوره مه اچوه بلکه په کراره پر مخ باندي په اوبو اچولو سره مخ پریمینځه ، بیا تر څنګلو پوري دواړه

لاسونه اول راسته او بيا چپه لاس پريوله ، بيا دلاس په لندولو سره سر مسح

کړه بيا دغوږونو مسح وکړه ،بيا دڅټ مسح وکړه مسح يوازي يو وار کول پکار ده ، بيا درې درې واره اول راسته پښه او بيا چپه پښه پريوله، بيا د

لاس په ګوتو سره د پښې ګوتي خلال کړه .

کوښښ وکړه چي ټول اندامونه په ښه شان سره پريولل سي د يوه اندام يو وريښته اندازه ځای وچ پاته نسي ، او که چيري په لاس بنګړی ،ساعت او يا په ګوته ګوتمۍ يانورشي وي نو دهغو ښه ښورول پکار دي تر څو لاندي اوبه ورسي .

# د اوداسه ماتونکي شيان

په لاندي اتو شيانو سره اودس ماتيږي :

۱ په کوچنيو يا غټو بولو کولو سره ، يا د دواړو لارو څخه ديوشي په وتلو .

۲ ريح يعني هوا د شاخوا څخه وتل .

۳ د بدن د يو ځای څخه دويني يا نو وتل .

۴ په ډکه خوله قی کول .

۵ په پړمخي يا يوشي ته تکيه کولو سره بيديدل .

۶ د ناروغۍ يا بلي وجي څخه بې هوشه کيدل .

۷ مجنون يعني ليونی کيدل .

۸ په لمانځه کښي په قهقه (په زوره) خندل .

# د اوداسه مکروهات

په لاندي څلورو شيانو سره اودس مکروه کيږي .

۱ پر ناپاک ځای باندي اودس تازه کول .

۲ په راسته لاس سره د پزي پريولل .

۳ په اوداسه کښي د دنيا خبري کول .

۴ د سنت څخه خلاف اودس کول .

# تیمم

په پاکه خاوره یا داسي شي سره چي د خاورو حکم لري د بدن دحکمي نجاست څخه پاکولو ته تیمم ویل کیږي .

که دغسل او اوداسه دواړو نیت وي نو یو ځل تیمم کول پکار دي ، پاته نور کوم احکام چي د اوداسه دي هغه دتیمم هم دي هر کله چي عذر ختم
سي نو تیمم هم ختم کیږي .

# دلمانځه بیان

## دلمانځه فرضونه

د لمانځه دیارلس (١٣) فرضونه دي چي اووه یې د لمانځه مخکي اداکول پکار دي او شپږ د لمانځه په مابین کي اداکول پکار دي .

۱ د بدن پاکول .

۲ د کالو پاکول .

۳ د ځای پاکول یعني پر کوم ځای چي لمونځ کوي.

۴ ستر پټول : د نارینه ستر د نامه څخه تر
زنګنو پوري ، او دښځي ستر ټوله بدن دي مګر مخ،
لاسونه تر مړوندو اوپښي تر بجلکو پوري دي ښکاره وي .

۵ پر ټاکلي وخت لمونځ کول

۶ قبلي ته مخ کول .

۷ په زړه کي دلمانځه نیت کول .

۸ تکبیر تحریمه ویل یعني دالله اکبر په ویلو سره
لمونځ شروع کول .

۹ قیام کول یعني دریدل .

۱۰ قرائت یعني قران کریم ویل .

۱۱ رکوع کول .

۱۲ دوي سجدې کول .

۱۳ په آخري ناسته کښې دالتحیات په اندازه کښېنستل .

# دلمانځه واجبات

دلمانځه څوارلس (۱۴) واجبات دي .

۱ د فرض لمانځه اولني دوه رکعته دقرائت لپاره مقررول

۲ د فرض لمنځونو د دریم اوڅلورم رکعت ماسوا د ټولو لمنځو په هر رکعت کي سورة فاتحه ویل .

۳ د فرض لمنځونو په اولو دوو رکعتونو کښې او دواجب، نفل اوسنت لمنځونو په ټولو رکعتونو کښې د سورة فاتحې وروسته یو اوږد آیت او یا درې کوچني آیاتونه ویل .

۴ سورة فاتحه د سورة څخه مخکي ویل .

٥ په قرائت، رکوع، سجدې او رکعتونو کښې ترتيب قائم ساتل .

٦ قومه کول يعني درکوع څخه دپورته کيدو وروسته سيده دريدل .

٧ جلسه کول يعني د دوو سجدو په مابين کې په ښه شان سره کښېنستل .

٨ تعديل ارکان، يعني رکوع ،سجده اونور په ښه اطمينان سره کول .

٩ قعده اولیٰ، يعني په درې اوڅلور رکعتيز لمونځ کښې د دوو رکعتو څخه وروسته دتشهد په اندازه کښېنستل .

١٠ په دوارو ناستو کښې تشهد(التحيات) ويل .

١١ د امام د سهار ،ماښام ،ماخستن ،جمعه، اخترونو ،تراويح او درمضان المبارك په وترو لمنځونو کښې په لوړ اواز سره قرائت ويل ، او دماپښين ،مازديګراونورو لمنځونو کښې قرائت په کراره ويل .

۱۲ په لفظ دسلام سره دلمانځه څخه جلاکیدل.

۱۳ په وترو کښې د دعاء قنوت لپاره تکبیر ویل
او دعاء قنوت ویل.

۱۴ د دواړو اخترونو په لمانځه کښي زائد تکبیرونه ویل.

# د لمانځه سنتونه

په لمانځه کښې یوویشت (۲۱) سنتونه دي:

۱ د تکبیر تحریمې ویلو څخه مخکي دواړه لاسونه
غوږو ته پورته کول.

۲ د دواړو لاسونو ګوتي پر خپل حال باندي خلاصول
او مخ پر قبلې کول.

۳ د تکبیر ویلوسره سر نه کښته کول.

۴ د امام تکبیر تحریمه او یو رکن څخه دوهم رکن ته د
تلو ټول تکبیرونه په قدر د ضرورت په لوړ اواز سره
ویل.

۵ راسته لاس پر چپه لاس لاندي تر نامه ایښودل.

۶ثناء(سبحانک اللهم......) ویل .

۷تعوذ (اعوذبالله من الشیطن الرجیم) ویل .

۸تسمیه (بسم الله الرحمن الرحیم) ویل .

۹د فرض لمانځه په دریم او څلورم رکعت کي سورة فاتحه ویل .

۱۰د سنت موافق قرائت ویل په کوم کوم لمانځه کي چي څومره قرآن ویل سنت دي دهغه مطابق ویل .

۱۱په رکوع او سجدې کښي کم تر کمه درې واري تسبیح ویل .

۱۲په رکوع کښي سر او ملا سره برابرول .

۱۳په قومه کښي امام لره سمع الله لمن حمده ویل .

۱۴او مقتدیانو ته ربنا لك الحمد ویل .

۱۵او منفرد سړی به تسبیح او تحمید دواړه وایي .

۱۶سجدې ته دتلو څخه مخکښي دواړه څنګنونه ،بیا دواړه لاسونه بیا تندی ایښودل .

۱۷په جلسه او قعده کښې د چپه پښې د غزولو سره پر هغې کښېنستل او راسته پښه داسې درول چې دهغې دګوتو سرونه د قبلې وطرف ته وي او لاسونه به يې پر ورنو باندي وي .

۱۸په تشهد کښې پر اشهد ان لااله الاالله باندي دشهادت په ګوتې سره اشاره کول .

۱۹په آخري ناسته کې د التحيات څخه وروسته درود شريف ويل .

۲۰د درود شريف څخه وروسته دعاء ويل .

۲۱اول راسته خواته او بيا چپه خواته سلام ګرځول .

# د لمانځه مستحبات

په لمانځه کښې پنځه شيان مستحب دي :

۱. د تکبير تحريمې ويلو په وخت کې د دواړو لاسونو ورغوي دلستوڼو څخه راايستل .

۱۷په جلسه او قعده کښې د چپه پښې د غزولو سره پر
هغې کښېنستل او راسته پښه داسې درول چې دهغې
دګوتو سرونه د قبلې وطرف ته وي او لاسونه به يې
پر ورنو باندې وي .

۱۸په تشهد کښې پر اشهد ان لااله الاالله باندې
دشهادت په ګوتې سره اشاره کول .

۱۹په آخري ناسته کې د التحيات څخه وروسته درود
شريف ويل .

۲۰د درود شريف څخه وروسته دعاء ويل .

۲۱اول راسته خواته او بيا چپه خواته سلام ګرځول .

# د لمانځه مستحبات

په لمانځه کښې پنځه شيان مستحب دي :

۱. د تکبير تحريمې ويلو په وخت کې د دواړو لاسونو
ورغوي دلستوڼو څخه راايستل .

۲. په رکوع او سجده کښې منفرد لره د درو ځلو څخه زيات(طاق) تسبيحات ويل .

۳. د قيام په حالت کښې د سجدې ځای ته کتل، د رکوع په حالت کښې د قدمونو ځای ته کتل،په جلسه او قعده کښې خپلې سينې کتل ته اود سلام ګرځولو په وخت کې اوږو ته کتل .

۴. تر خپله وسه پورې ټوخی نه کول .

۵. په ازږمۍ کښې خوله بنده ساتل او که خلاصه سي نو دولاړي په حالت کښې په راسته لاس سره او په نورو حالاتو کښې د چپه لاس دشاپه خوا پټول .

## دلمانځه مفسدات (دلمانځه ماتونکي شيان)

په لاندينې اتلس شيانو سره لمونځ فاسديږي :

۱. په لمانځه کښې خبرې کول که قصدا وي يا په هيره ،لږ وي يا ډيرې په هر حالت کې لمونځ فاسدوي .

۲. سلام اچول یعني یو سړی ته دسلام کولو په قصد سره سلام یا السلام علیکم یا دغسي یو بل لفظ ویل .

۳. د سلام جواب ورکول یا نوړي والا ته یرحمك الله ویل یا دلمانځه څخه د دباندي شخص پر دعاء امین ویل .

۴. پر یو غمونکي خبره باندي انالله وانا الیه راجعون ویل، او یا پر یو ښه خبره باندي الحمدلله ویل ،یا پر یو عجیبه کار باندي سبحان الله ویل .

۵. د ناروغی،درد یا رنځ په وجه آه،اوه یا اف ویل .

۶. د خپل امام نه پرته بل چاته فتح ورکول یعني قرائت او نور ورښودل .

۷. قرآن کریم په کتلو سره ویل .

۸. د قرآن کریم په ویلو کښي غلطي کول .

۹. عمل کثیر کول، یعني یو داسي کار کول چي په هغه سره بل کس دا ګمان وکړي چي دی لمونځ نه کوي .

۱۰. خوراك او څښناك كول كه قصدا وي او كه په هيره سره .

۱۱. د دوو صفونو په اندازه تګ كول .

۱۲. د قبلي د خوا څخه په قصد سره سينه ګرځول

۱۳. پر ناپاك ځای باندي سجده كول .

۱۴. د ستر ښكاره كيدلو په حالت كښی د يوه ركن په اندازه ايساريدل .

۱۵. په دعاء كښي يو داسي شی غوښتل چي هغه د خلكو څخه غوښتل كيږي مثلا ووايې : ياالله ماته يو لك روپۍ راكړې.

۱۶. د درد يا يو مصيبت په حالت كښي داسي ژړل چي يو حرف ځيني ښكاره شي .

۱۷. د بالغ سړي په لمانځه كښي په قهقهه سره خندل چي اواز لوړ سي .

۱۸. د امام څخه مخكښي يو ركن كول .

# د لمانځه مکروهات

په لمانځه کښي نهه ويشت (۲۹) مکروهات دي :

۱. سدل يعني کالي زړول مثلا پټو پر سر اچولو سره دواړي خواوي زړول.

۲. کالي د خاورو څخه دساتلو په خاطر ليري کول يا راټولول.

۳. په خپلو کالو يا بدن سره بازۍ کول.

۴. په معمولي کالو په کوم کښي چي يو مجمع ته تګ نه خوښوي پکښي لمونځ کول.

۵. په خوله کښي ديوه شي لکه روپي وغيره ايښودلو سره لمونځ کول.

۶. د سستۍ او بې پرواهۍ له کبله په لوڅ سر سره لمونځ کول.

۷. د غټو بولو يا کوچنيو بولو په حالت(يعني چي په لمونځ کي يې فکر وراوښتي وي) کښي لمونځ کول

۸. د وریښتانو پر سر یو ځای کولو سره کوڅۍ جوړول .

۹. ډیري لیري کول مګر که سجده کول مشکل وي نو په یو ځل لیري کولو کښې څه پروا نسته .

۱۰. په ګوتو باندي تکان کول یا دیوه لاس ګوتي په بل لاس کښې اچول .

۱۱. پر ملا ،تشي یا بغل باندي لاس ایښودل .

۱۲. د قبلي د خوا څخه مخ ګرځول یا یوازي په نظر سره اخوا دیخوا کتل .

۱۳. د سپي په شان کښینستل یعني ورنونه درول او پر کښینستل او ورنونه د نس سره او ګونډې د سیني سره یو ځای کول او لاسونه پر مځکه ایښودل .

۱۴. د یو داسي سړي مخته لمونځ کول چي دهغه سړي مخ دده خوا ته وي .

۱۵. په سجده کښې خپل دواړي څنګلي پر مځکه ایښودل دنارینه لپاره مکروه دي .

۱۶. د لاس یا سر په اشارې سره چا ته د سلام جواب ورکول.

۱۷. بلا عذره چارذانو کښېنستل.

۱۸. سترګي پټول، مګر که یې په لمانځه کي د زړه لګولو لپاره بندي کړي بیا پروا نه کوي

۱۹. قصدا اررمې کول او یا د بندیدو په حالت کښې نه بندول.

۲۰. د امام په محراب کښې دننه دریدل، مګر که چیري قدمونه یې دباندي وي بیا مکروه نه دی.

۲۱. یوازي دامام یو لاس لوړ دریدل مګر که دهغه سره مقتدیان هم وي بیا پروا نه کوي

۲۲. په داسي صف کښې یوازي دریدل چي په هغه صف کي خالي ځای وي.

۲۳. پرداسي کالو لمونځ کول چي پر هغه د جاندار(ساه کښ) عکس وي.

۲۴. په داسي ځای کښې لمونځ کول چي د لمونځ کونکي لوړ، مخته، راسته طرف یا چپه طرف ته، یا دسجدې په ځای کي عکس وي .

۲۵. آیاتونه، سورتونه یا تسبیحات پر ګوتو باندي شمېرل .

۲۶. پر پټو یا ټوکر داسي راپیچلو سره لمونځ کول چي لاس نسي ترې راوتلای .

۲۷. په لمانځه کښې سستي کول .

۲۸. د لنګوټې پر شمله (ول) سجده کول .

۲۹. د سنت خلاف په لمانځه کښې یو کار کول

# مکروه وختونه

په لاندي وختونو کښې لمونځ کول مکروه دي :

۱. د زوال (لمر برابرۍ) په وخت کښې .

۲. د لمر لویدلو په وخت کښې .

۳. د لمر راختلو په وخت کښې .

۴. د مازدیګر دلمانځه وروسته سنت او نفل کول.

۵. د سهار دلمانځه وروسته سنت او نفل کول

۶. د اختر په ورځ د لمر ختلو څخه وروسته او د اختر دلمانځه مخکښې سنت او نفل کول.

## مکروه ځایونه

په لاندیني نهه[۹] ځایونو کسي لمونځ کول مکروه دي

۱. په هدیره کښې.

۲. پر عامو سرکو باندي.

۳. د امبارو غورځولو په ځای کښې.

۴. مواشي خانه یعني دحیواناتو ساتلو په ځای کښې.

۵. مذبح، یعني د حیواناتو دحلالولو په ځای کښې.

۶. په قصابه(د قصاب دوکان) کښې.

۷. په حمام کښې. ۸ اصطبل، یعني په غوجل کښې.

۹. بیت الخلاء کښې.

## اذان

د آذان پنځه شرطونه دي :

۱. په اوداسه سره کول .۲ مخ پر قبله دریدل .

۲. ستر پټ ساتل .

۳. د لمانځه وخت کیدل ځکه دیو لمانځه اذان د وخت داخلیدو څخه مخکي جائز نه دی .

۴. په ولاړه اذان کول، غوره داده چي پر یو لوړ ځای ودریږي او آذان وکړي .

اذان دټولو فرض لمنځو لپاره سنت دی یعني د روزانه پنځو لمنځو او دجمعې دلمانځه لپاره سنت دی ، ددې څخه علاوه د نورو ټولو لمنځو لپاره اذان سنت نه دی، مثلا دتراویح لمونځ، وترلمونځ، دجنازې لمونځ، داخترونو لمونځ، د لمر ترنده نیولولمونځ، دخوف لمونځ او نور داهغه لمنځونه دی چي فرض نه دی بلکه کفائیه دي .

# د لمانځه اذان

اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط

الله ډير لوی دی الله ډير لوی دی

اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط

الله ډير لوی دی الله ډير لوی دی

اَشْهَدُ اَنْ لَّآاِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ ط

زه شاهدي اداکوم چې نسته لائق دعبادت مګر يو الله

اَشْهَدُ اَنْ لَّآاِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ ط

زه شاهدي اداکوم چې نسته لائق دعبادت مګر يو الله

اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

زه شاهدي اداکوم چې حضرت محمدص دالله رسول دی .

اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

زه شاهدي اداکوم چې حضرت محمد ص دالله رسول دی .

# حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ

راسئ لمانځه ته . لږ راسته خواته په مخ کولو سره دوه واره

# حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ

راسئ د کامیابۍ خواته. لږ چپه خواته کتلو سره دوه واره

الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله

د سهار په اذان کښې د حي علي الفلاح څخه وروسته دوه واره

# اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ

لمونځ تر خوبه زيات غوره دی .دوه واره

الله اکبر الله اکبر

الله تعالي تر ټولو لوي دي الله تعالي تر ټولو لوي دي

لا اله الا الله

نسته لائق د عبادت ماسوا د یوه الله څخه

او په اقامت کښې دي د حي على الفلاح څخه وروسته دوه

واره لاندي کلمې ووايي.

قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ

په تحقيق سره دلمانځه جماعت ودرېدی دوه واره

بيا وروسته دي الله اکبر الله اکبر لا اله الاالله ووايي.

تر اذان وروسته دعا. اللهم رب هذه الدعوة التامة

والصلوة القائمة ات محمدنِ الوسيلة والفضيلة

وابعثه مقاما محمودانِ الذي وعدته انک لا تخلف

الميعاد.

د اذان دعا په صفحه ٩٧ کی د ترجمی سره

ستر

# د اذان او اقامت جواب

هر کله چي د آذان اواز واوري نو ټول کارونه دي پريږدي د آذان جواب دي ورکړي بيا په بسم الله ويلو سره دي دوهم ځل تلاوت شروع کړي ، په هر صورت هر اذان اورېدونکي باندي جواب واجب دی، که ډير مؤذنان اذان وکړي نو د اول جواب ورکول واجب دي او که اورېدونکی په مسجد کښې وي نو پر هغه باندي جواب ورکول واجب نه دي بلکه مستحب دي چي په ژبه سره جواب ورکړي ، او که بلا عذره جواب ته رانسي نو جواب به ادا نه وي بلکه پکار دي چي په ژبه سره جواب ورکړي او په پښو سره مسجد کښې حاضر سي هغه وخت به جواب بشپړ سي ·

مراقي الفلاح ،شامي ،حصن حصين

---

د اذان او اقامت جواب ورکولو طريقه داده :

څه چي مؤذن يا مكبر وايي همدا رنګه دي اوريدونكى هم ورسره وايې، مګر په حي على الصلوة او حي على الفلاح باندي دي (وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَةَ اَلاَ بِاللهِ العَلِي العَظِيم) وايي.

د سهار په اذان كښې د الصلوة خير من النوم په اوريدلو سره دي (صَدَقْتَ و بَرَرْتَ وَبِالْحَقِ نَطَقْتَ) ژباړه: تا رښتيا وويل او زموږ دخير خبره دي وكړه

شامي ،حصن حصين

او هر كله چي په اقامت كښې قد قامت الصلوة واوري نو اوريدونكي دي (اَقَامَهَا اللهُ وَ دَامَهَا) وايې. ژباړه: موږ دي الله تعالى قائم او دائم لري.

په اقامت كښي هم د اذان په ډول حي على الصلوة او حى علي الفلاح كښې راسته او چپه طرف ته كتل مسنون دي.

١. **مسئله:** هر كله چي اذان ختم سي نو درود شريف دي وايې، الله تعالى به لس رحمتونه پر نازل كړي او بيا دي داذان دعاء ووايې.

۲. **مسئله** : په اذان کښې د اشهد ان محمدا رسول الله په اوریدلو سره ګوتې مچول او په سترګو پورې موږل دا دسنت خلاف کار دی . ددې پرېښودل پکار دی او دکوم حدیث حواله چې ورکړل سوې ده هغې ته علامه ابن طاهر تذکره کښې علامه سوکانې فوائد مجموعه کښې لیکلي دي چې دا حدیث صحیح نه دی .

د روزانه پنځو لمنځو او دجمعې د لمونځ دټولو وختو نقشه

# د رکعتونو نقشه .

| لمونځ | سنت مؤکد | سنت غیر مؤکد | فرض | سنت مؤکد | نوافل | وتر | ټول رکعتونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سهار | ۲ | ۰ | ۲ | ۰ | ۰ | ۰ | ۴ |
| ماپښین | ۴ | ۰ | ۴ | ۲ | ۲ | ۰ | ۱۲ |
| مازدیگر | ۰ | ۴ | ۴ | ۰ | ۰ | ۰ | ۸ |
| ماښام | ۰ | ۰ | ۳ | ۲ | ۲ | ۰ | ۷ |
| ماخستن | ۰ | ۴ | ۴ | ۲ | ۴ | ۳ | ۱۷ |
| جمعه | ۴ | ۰ | ۲ | ۲+۴ | ۲ | ۰ | ۱۴ |

# د لمانځه په اړه څو مهمي مسئلې

هر کله چي دلمانځه لپاره ودریږي نو اول دي خپل کالي سم کړي د مخ څخه دي دسمال،لنگوټه یا خولۍ لیري کړي د قمیص لستوني که تر څنگلو پوري لوړ وي هغه دي راکښته کړي ، د یخ له کبله که یې شی اغوستی وي او په هغه سره مخ پټ وي نو هغه دي ایسته کړي .

هر کله چي نيت وکړي نو د تکبير تحريمې لپاره دي لاسونه د پټو ځخه راوباسي ، سړي ته پکار دي که پټو يا پرتوګ د بجلکو څخه کښته وي هغه دي پورته کړي د سر ټوکر دي په ښه توګه وګوري چي دهغې په مابين کښې سر پرانيزي .

ښځه دي داسي نازك پوړنی يا قميص نه اغوندي چي دهغې څخه بدن يا ويښته صاف معلوم سي په داسي کالو کښې دښځو لمونځ نه صحيح کيږي که يې په غلطي سره پکښې وکړي نو لمونځ دي بيرته راوګرځوي .

هر کله چي لمونځ شروع کړي نو دالله تعالی عظمت او هيبت دي په زړه کي په پوره توګه راولي ، دلمانځه هر رکن دي په پوره تسلي او اطمينان سره اداء کړي ، قرائت دي داسي وايې لکه چي دالله تعالی په مخ کښې سبق تيروي او داسي دي يې اداکړي چي د خپل ژوند آخري لمونځ يې دی او دا تصور دي وکړي چي زه الله تعالی وينم که داسي ونه سي نو کم تر کمه داسي تصور دي وکړي چي الله ماويني که يې دلمانځه معنی زده وي نو الفاظو معنی او مقصد ته دي توجه

کوي که يې په معنی نه پوهيږي نو هر مخکښې حرف ته دې په فکر کولو سره وايې په داسې ډول چې په لمانځه کښې نور خيالونه رانسي او په لمانځه کښې يې دخشوع عادت ولويږي.

کوم خيالونه چې په لمانځه کښې راسي په هغو کښې دې بالکل فکر نه کوي د خيالونو راتلل بد نه دي بلکه خيالونه پخپله راوستل بد دي.

هر کله چې دلمانځه لپاره ودريږي نو ددواړو پښو په مابين کښې کم تر کمه د دوو ګوتو فاصله پکار ده. د پښو دګوتو طرف دې سيده قبلې ته کړي.

١. **مسئله**: د تکبير تحريمې د ويلو په وخت کښې دې ښځه د لاسونو پورته کولو په وخت کښې خپل لاسونه تر پوړني نه راباسي او په تکبير تحريمه کښې دې سر سيده ساتي او الله اکبر کښې دې الف نه کشوي..

۲. **مسئله** : ښځي دي د تکبير تحريمې د ويلو په وخت کښې خپل لاسونه غوږو ته نه وړي بلکه لاسونه دي يوازي تر اوږو پوري پورته کوي داسي چي د لاسونو د ګوتو سرونه د اوږو سره برابر سي .

۳. د تکبير تحريمې ويلو څخه وروسته دي هر لمونځ کونکی بيله ځنډه خپل دواړه لاسونه د نامه لاندي ونيسي ، د راسته لاس ورغوی دي د چپه لاس پر شاکښېږدي په خچې ګوته اوبټه ګوتي سره دي خپل مړوند ونيسي ، پاته درې ګوتي دي دلاس پر شا باندي کښېږدي ، او ښځه دي خپل لاسونه پر سينه ونيسي د هغې طريقه داده : چي دخپل راسته لاس ورغوی دي د چپه لاس پر شا کښېږدي د خلګو په شان مړوند دي نه نيسي .

۴. **مسئله** : د قيام په حالت کښې دي خپل نظر د سجدې پر ځای باندي قائم ساتي هر کله چي سورت ختم کړي نو د رکوع لپاره دي تکبير ووايي او تکبير

دي داسي ووايي چي دقرائت او تکبير الفاظ په خپلو کښې يو ځای نه سي او د تکبير الفاظ دي رکوع کښې د ملا برابرولو پوري ختم کړي .

۵. **مسئله** : د رکوع په حالت کښې دي خپل ځنگنونه په لاسونو داسي ونيسي چي دلاسونو گوتي خلاصي وي ، ځنگنو ته دي په لاسو سره تکيه ورکړي ، لاسونو او ځنگنونه دي دليندۍ په شان نه کښته کوي بلکه سيده دي يې ساتي ، په رکوع کښې دي سر او ملابرابروي او نظر دي پر پښو ساتي .

۶. **مسئله** : ښځه دي په رکوع کښې لږ کښته سي او په لاسو باندي دي ځنگنو ته تکيه نه ورکوي د رکوع په وخت کښې دي دلاس گوتي بندي ساتي ځنگونونه دي کښته ساتي . او بازو ډې د جسم څخه جلا نه ساتي

۷. **مسئله** : د سجدې کولو په وخت کښې دې پښې پر مځکه باندې ټينګې ساتي که په سجده کښې دواړې پښې پورته سي نو لمونځ فاسديږي.

۸. **مسئله** : د ښځي لپاره د سجدې کولو طريقه داده چې په ښه شان راغونډيدو او ډب کيدو سره دې سجده وکړي خپل نس دې د دواړو ورنونو او ورنونه دې دپنډيو سره او بازو دې خپلو دواړو اړخونو سره يو ځاى وساتي او خپلي څنګلي دې دسجدې په حالت کښې پر مځکه غزولي ساتي .

۹. **مسئله** : هر لمونځ کونکى دې دسجدې په حالت کښې نظر د پزي پر څوکه باندې ساتي

۱۰. د فرض لمانځه په هر رکعت کښې دې هغه سورت يا آياتونه نه وايې کوم چې يې په اولنيو رکعتو کښې ويلي وي بلکه دهغو څخه مخکي سورتونه يا آياتونه دې نه وايې ، مګر دنفل او سنتو په هر رکعت کښې يو سورت ويلاى سي .

۱۱. **مسئله** : د التحيات په وخت کښې دي دلاسونوګوتي د ورنونو سره دخپل عادت مطابق خلاصي پرېږدي د ګوتو سرونه دي د ځنګنوبرابر وي نه دي مخکښې وي او نه وروسته .

۱۲. **مسئله** : د ښځي په التحيات کښې دناستي طريقه داده : چي پر خپل چپه کوناټي باندي کښيني او دواړي پښې دي خپل راسته طرف ته وباسي او دلاسونو ګوتي دي دورنو نو سره يو ځاى ساتي .

۱۳. **مسئله** : هر لمونځ کونکی دي دالتحيات ويلو په وخت کښې خپل نظر خپلي سينې باندي ساتي .

۱۴. **مسئله** : د سلام ګرځولو په وخت کښې دي يوې خوا بلي خواته نورو شيانو ته نه ګوري يوازي دي خپلو اوږو ته ګوري او که يوازي لمونځ کوي نو دسلام ګرځولو په وخت کښې دي پر فرشتو دسلام نيت هم وکړي .

۱۵. **مسئله** : که لمونځ په جماعت سره وي نو امام دي دمقتديانو ،ملائکو ،مسلمانو پيريانو ، دپاره دسلام نيت وکړي او مقتدی دي دامام ،ملائکو او دملګرو لمونځ کونکو نيت وکړي .

۱۶. **مسئله** : د ښځي که دلمانځه په حالت کښې مخ ، دلاس پنجه ، او دقدمونو ماسوا بل يو اندام د دومره وخت لپاره ښکاره سي چي درې واره سبحان الله ويل کيده نو لمونځ يې ماتيږي د سره به لمونځ کوي ، مګر که تر دې دکم وخت لپاره ښکاره سي او ژر يې پټ کړي نو لمونځ يې صحيح دي مثلا دپنډۍ ،مړوند،د سر وريښتان، غوږ يا ګريوان وغيره څلورمه حصه دومره وخت ښکاره سي چي دري واره سبحان الله ويل کيده نو لمونځ يې ماتيږي .

۱۷.  هر کله چي په ځنګله کښې په يو داسي ځای کښې لمونځ ودريږي چي هلته خلګ تيريږي نو خپل مخ ته دي يو شی ودروي ددې وروسته که څوك مخته تير سي نو په لمانځه کښې خلل نه راځي ، چي دې ته ستره وايې او ستره به د يولاس په اندازه اوږده او د ګوتي د پنډوالي برابر وي .

۱۸.  که لمونځ په جماعت سره وي نو يوازي دامام لپاره ستره کفايت کوي .

۱۹.  د لمونځ کونکي مخته تيريدل سخته ګناه ده ، په حديث شريف کښې راغلي دي که دلمونځ کونکي مخته د تيريدلو ګناه چاته معلومه سي نو هغه به تر شلو کالو پوري ولاړ وي او مخته به نه تيريږي ، دمخ په فاصله کښې د علماؤو اختلاف دی ، صحيح مذهب دادی چي دلمونځ کونکي د سجدې د ځای څخه تير سي نو لمونځ کونکي ته پکار دي چي هغه په يوه لاس سره منع کړي .

# دلمانځه ترکیب

دلمانځه نیت : لمونځ کونکی دي مخ پر قبله په زړه کښې
نیت وکړي چي ددې وخت لمونځ دالله لپاره کوم که مقتدی
وي نو داخیال دي هم وکړي چي په دې حاضر امام پسي ،
امام که دقبلې نیت پخولو په غرض په ژبه سره ووایې نو ښه
ده او دادعاء دي هم وکړي . شامي صــ ۳۸۶ جلد اول

# دنیت دعاء

اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ

بیشکه ما خپل مخ هغه ته متوجه کړئ چاچي پیداکړي دي اسمانونه

وَالْاَرْضَ حَنِیْفًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ۵

او مځکه ، هغه ته په اخلاص سره او زه دشرک کونکو څخه نه یم

# د لمانځه شروع

د لمانځه دنیت کولو څخه وروسته دي لمونځ کونکي خپل دواړه لاسونه تر غوږو پوري داسي لوړ کړي چي د دواړو لاسونو ورغوي د قبلې طرف ته وي د دواړو لاسونو ګوتي نه ډيري يو ځاى وي او نه خلاصي بلکه پر اصلي حالت باندي دي وي او تکبير تحريمه يعني الله اکبر ويلو سره دي لاسونه تر نامه لاندي وتړي راسته لاس سربيره او

چپه لاس تر هغه لاندي کړي .

اَللهُ اَكْبَر

الله ډیر لوی دی

سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ

اې الله ستا ذات پاک دی او ثنا ده تالره او برکت والا دی ستانوم

وَ تَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ ط

او ستا شان لوړ دی او ستا څخه ماسوا بل معبود نسته

بیا دي تعوذ ووایي او هغه دادی :

اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ٥

زه پناه غواړم په الله سره د شیطان رټل سوي څخه

او بیادي تسمیه ووایي چي هغه داده :

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ٥

شروع کوم په نامه سره د الله چي ډیر مهربان او زیات رحم والا دی

او بیا دي الحمدلله شریفه ووایي چي داده :

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۙ

تهوله تعريف الله لره دي چي دټول جهان رب دی مهربان او رحم کونکی

مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ؕ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ؕ

مالک د ورځي دقيامت دی، موږ خاص ستاعبادت کوو او خاص ستاڅخه مدد غواړو

اِهْدِنَاالصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۙ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ

موږ ته سيده لار راوښيه دهغه خلکو لار چي تا انعام پر کړی

عَلَيْهِمْ ۙ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۧ آمين

پر هغوئ باندي، نه دهغو لار چي ستاپه غضب مبتلا سوي دي او نه لار دګمراهانو

د الحمدلله ختمولو څخه وروسته دي کرار آمين ووايي بيا دي

سورة الخلاص يا يو بل سورة ووايي

قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ ۚ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۚ لَمْ يَلِدْ ۙ

ووايه (اي نبي) چي الله يو دی، الله بې نيازه دی، هغه نه څوک زيږولی دی

وَلَمْ يُوْلَدْ ۙ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۧ

او نه دچا څخه زيږيدلی دی، او هيڅوک دهغه سيال نسته .

د سورة د ختمولو سره سم دي په الله اکبر ویلو سره د رکوع لپاره کښته سي په رکوع کښې دي ځنګنونه په لاسونو سره ونیسي، په رکوع کښې دي سر اوملا برابر ساتي لاسونه دي د بغلو څخه جلا نیسي ،پنډۍ دي سیده نیسي اوپه رکوع کي دي دغه تسبیح وایې

| |
|---|
| سُبْحٰنَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ ط |
| پاکي ده زما رب ته چي لوی دی |

پورته تسبیح دي په رکوع کښې درې یا پنځه واره ووایې او بیا دي دغه تسمیع ووایي

| |
|---|
| سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ط |
| الله دهغه واوریدل کوم چاچي دهغه حمد ووایه |

د تسميع په ويلو سره دي سيده ودريږي او بيا دي تحميد ووايې ، که چيري په امام پسي لمونځ کوي نو بيا دي يوازي تحميد وايې تسميع دي نه وايې ، تحميد په لاندي ډول دی :

| |
|---|
| رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ط |
| اې زموږ پروردګاره تالره تمام تعريفونه دي . |

او که يوازي لمونځ کوي نو بيا تسميع او تحميد دواړه ووايه ددې څخه وروسته الله اکبر ويلو سره سجدې ته داسي ولاړ سه چي مخکښې دواړه ځنګنونه پر مځکه کښېږده بيا دواړه لاسونه بيا د دواړو لاسو په مابين کښې پزه بيا تندی کښېږده او بيا په سجده کښې درې يا پنځه واره دغه تسبيح ووايه :

| |
|---|
| سُبْحٰنَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى ط |
| پاکي ده زما رب ته چي لوړ شان لري |

د سجدې صحيح طريقه داده چي دواړي پښې او دهغو ګوتي قبلې طرف ته وي ، مخ دلاسونو د دواړو تلو(ورغوو) عين

مینځ کښې وي او ددواړو لاسونو بتې ګوتې دغوږو پربرابر وي، ګوتې دي یو ځای وي او سیده دقبلې طرف ته دي وي څنګلي د بغلو څخه او ورنونه د نس څخه جلا وي او څنګلي ولاړي وي چي د مځکي سره ونه مښلي .

ددې څخه وروسته د الله اکبرپه ویلو سره راپورته سه او سیده کښېنه بیا په الله اکبر ویلو سره دوهمي سجدې ته ولاړسه بیا په الله اکبر ویلو سره ودریږه دپورته کیدو په وخت کښې پر مځکه لاس مه لګوه، دا یو رکعت پوره سو د سجدو څخه وروسته پرولاړیدو باندي دوهم رکعت شروع سو بیا بسم الله ویلو سره الحمدالله شریفه ووایه بیا یو بل سورة ورسره یو ځای کړه او داولني رکعت په شان دوهم رکعت هم وکړه ، دا خبره په یاد لره که ته په امام پسي لمونځ کوې نو دثناء څخه وروسته به پټه خوله پاتیږې اود امام قرائت به اورې دالحمدالله او سورة ویلو ضرورت نسته ، د دوهم رکعت په ختمیدو سره د تشهد لپاره کښېنه ، ددواړو سجدو او تشهد په حالت کښې داسي کښېنستل پکار دي چي

راسته پښه ولاړه او ګوتي يې د قبلې خواته وي او چپه پښه غزولو سره پر هغه کښينه د ناستي حالت کښې دواړه لاسونه دواړو ګونډو باندي کښېږده او بيا تشهد يعني التحيات ووايه

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰاتُ وَالطَّيِّبَاتُ

ټول قولي عبادتونه او بدني عبادتونه او مالي عبادتونه دالله لپاره دي

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَاالنَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ ط

سلام دي وي پر تا اې نبي اود الله رحمت او دهغه بر کتونه

اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِاللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ ٥

سلامتيا دي وي پر موږ باندي او د الله پر نيک بندګانو

اَشْهَدُ اَنْ لَّآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ

زه شاهدي اداکوم چي نسته لائق دعبادت ماسوا ديوه الله

وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ٥

او شاهدي اداکوم چي محمدص دهغه بنده او رسول دی

**یادونه** : که لمونځ دوه رکعتیز وي نو دالتحیات وروسته لاندیني درود شریف او دعاء ویلو سره سلام وګرځوه ، او که لمونځ درې یا څلور رکعتیز او فرض وي نو بیا یوازي د التحیات په ویلو سره الله اکبر ووایه او دریم رکعت لپاره ولاړسه او په بسم الله ویلو سره یوازي الحمدلله شریفه ووایه او رکوع ته ولاړسه ، همدغسي څلورم رکعت پوره کړه ، او که لمونځ د درې یا څلور رکعتو والا وي مګر سنت یا نفل وي نو الحمدالله سره یو سورت هم یو ځای کړه.

۱. هر کله چي اشهد ان لااله الاالله ته ورسیږي نو دمابین ګوته او بټه ګوتي باندي کړۍ جوړه کړه او دلااله ویلو په وخت کښې خپله دشهادت ګوته پورته کړه او الاالله ویلو په وخت کښې ګوته بیرته کښته کړه خو حلقه او عقد هیئت تر اخر لمانځه پوري باقي وساته ځکه چي داسي کول سنت دي . درمختار.

۲. که لمونځ څلور رکعتیز یا درې رکعتیز وي نو التحیات یوازي تر عبده ورسوله پوري ووایه ،که په

خطا سره په فرض ،واجب یاسنت مؤکد درمیاني التحیات کښې درود شریف تر اللهم صل علي محمد پوري یا ددې څخه زیات ووایي نو سجده سهوه به کوي که تر دې کم ووایي نو سجده سهوه نسته . درمختار .

۳. د فرض لمانځه دریم یا څلورم رکعت کښې د سورة فاتحې سره بل سورة مه یو ځای کوه که یو څوك یې په خطا سره ووایې لمونځ به وسي او سجده سهوه به هم نه کوي . منیة المصلی .

## درود شریف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰٓی اٰلِ مُحَمَّدٍ

اې الله رحمت ولیږه پر محمد ﷺ او پر آل د محمد ﷺ

كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰٓی اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰٓی اٰلِ

لکه څنګه چې تا رحمت لیږلی وو پر ابراهیم ع او پر آل

اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ○

د ابراهیم ع، بیشکه ته تعریف سوی او برزګ یې .

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ

اې الله برکت وکړه محمد ﷺ ته او آل د محمد ﷺ ته

كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَ عَلٰى اٰلِ

لکه څرنګه چي تا برکت ورکړي وو ابراهيم ع ته او ال د

اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ٥

ابراهيم ع ته بيشکه ته تعريف سوي او بزرګ يې

# د درود شريف وروسته دعاء

د درود شريف څخه وروسته دا ټولي دعاوي وواياست او که يوه وواياست نو کافي ده :

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ ظُلْمًا كَثِيْرًا

الهي ما پر خپل ځان ډير ظلم کړی دی

وَّلَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّآ اَنْتَ فَاغْفِرْلِيْ

او نه بخښي ګناهونه مګر ته ،نو ما وبخښي

مَغْفِرَةً مِّنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِيْ اِنَّكَ اَنْتَ

په خپل خاص بخښنه سره او پر ما رحم وکړي بيشکه ته

الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ

بخښونکی او مهربان يې

رَبِّ اجْعَلْنِيْ مُقِيْمَ الصَّلٰوةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ

اې زما پروردګاره ما دلمانځه پابند جوړ کړې او زما اولاد هم

رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ

اې زموږ پروردګاره زموږ دعاء قبوله کړې

رَبَّنَا اغْفِرْلِيْ وَلِوَالِدَيَّ

اې زموږ ربه ماته بخښه وکړه، او زما مور وپلار ته بخښنه وکړه

وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ ۝

او ټولو مؤمنانو ته بخښه وکړه په هغه ورځ چې حساب کيږي.

رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ

اې زموږ ربه موږ ته په دنيا کښې خير راکړې او په آخرت

حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ط

کښې هم خير، او موږ وساتې د دوږخ د عذاب څخه

ددې څخه وروسته دې اول راسته او بيا چپه طرف ته سلام

وګرځوي دسلام کلمات په لاندې ډول دي

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ ط

سلام دې وي پر تاسو باندې او دالله رحمة دې وي.

# دلمانځه څخه وروسته دعا

د هر فرض لمانځه د سلام ګرځولو څخه وروسته دي درې واره استغفر الله ویلو سره دادعاء وکړي

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ |
| الهي ته سلامتي والا يې او تاته سلامتي ده |
| تَبَارَكْتَ يَا ذَالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ ط مسلم |
| بركت والا يې ته اي خاوند د عظمت او بزرګي |

# دلمانځه وروسته خصوصي اذكار

د كوم فرض لمانځه وروسته چې سنت وي په هغو كښې د سنتو او نفلو څخه دفارغيدو وروسته او په كومو لمنځو كښې چې سنت نه وي په هغو كښې دسلام ګرځولو وروسته لاندیني اذكار ويل د ثواب باعث دي :

يو يو ځلي

١. استغفرالله الذي لااله الاهوالحي القيوم

۲. آیة الکرسي .

۳. قل هوالله ....تر پایه .

۴. قل اعوذ برب الفلق..... ترپایه .

۵. قل اعوذبرب الناس .... ترپایه .

۶. سُبْحَانَ الله .۳۳ واره ، اَلْحَمْدُلله ، ۳۳ واره اَللهُ اَکْبَر ۳۴ واره

۷. لَااِلَهَ الاَّالله وَحْدَهُ لَاشَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيءٍ قَدِيرْ . يو ځلي .

**فائده** : په حدیث شریف کښې راغلي دي چې څوك داسي کوي نو دهغه ټول ګناهونه معافیږئ که څه هم د سمندر دځګ په اندازه وي ، مسلم کتاب الاذکار .

# د دعاء غوښتلو بیان

د فرضو لمنځو وروسته دعاء قبلیږي دهر فرض لمانځه وروسته ضرور دعاء غوښتل پکار دي ، ددعاء غوښتلو مسنون طریقه داده چې خپل لاسونه د دعاء لپاره سینې بیا تر

اوږدو پوري پورته کړي دواړه لاسونه په خپلو کښې یو ځای وي د ګوتو طرف د کعبې خواته دلاس دتلو (ورغوو) طرف د مخ خواته وي ، هر کله چي لاس په ښه شان پورته کړي بیا دي الحمدلله رب العلمین ووایې بیا درود شریف او بیا دي دعاء وغواړي که یې په عربي ژبه دعاء یاد نه وي نو په پښتو ویل هم صحیح دي ، په ډیره عاجزي او خشوع سره دي دعاء غواړي د قبولیت امید دي لري ، د لوړ اواز پر ځای دي په کرار اواز سره دعاء غواړي، په آخر د دعاء کښې دي بیا درود شریف ووایې د دعاء دختمیدو سره دي دواړه لاسونه پر مخ را تیر کړي .

۱. **مسئله** : د لمانځه وروسته په سجده کښې د پریوتلو سره دعا غوښتل جائز نه دي .عینه شرح .

۲. بعضي خلک د فرض لمانځه کولو وروسته سنت او نفل کولو سره په دې انتظار ناست وي چي امام سره دعاء وکړي دا دسنت خلاف کار دی هر کله چي د

فرض وروسته يې دعاء کړې ده نو اوس ددوهمې دعاء انتظار کول صحيح نه دي .

# دوتر لمونځ

د وتر لمونځ د ماخستن د فرضو او سنتو وروسته درې رکعته دي چې واجب دي، اولني دوه رکعته او اوله ناسته په عادي ډول وکړي اوتر التحيات ويلو وروسته ودرېږي يعنې دريم رکعت ته ولاړسي ، په دريم رکعت کښې د الحمدلله او سورة ويلو وروسته د الله اکبرپه ويلو سره لاسونه غوږو ته پورته کړي بيا لاسونه تر نامه لاندې ونيسي او دعاء قنوت ووايا ست .

# دعاء قنوت

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ

الهي موږ. ستاڅخه مرسته غواړو، اوستاڅخه بخښنه غواړو

وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَنُثْنِيْ

او پر تا ايمان راوړو، او پر تا توكل كوو، اوستاتعريف كوو

عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَنَشْكُرُكَ وَلَانَكْفُرُكَ

په ډير ښه تعريف، اوستا شكر ادا كوو، او ستاناشكري نه كوو

وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ . اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ

اوليري كوواو پريږدو هغه چي ستانافرنامي كوو، اي الله تالره

نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَاِلَيْكَ نَسْعٰى

موږ عبادت كوو، اوتاته لمونځ كوو، اوسجده كوو، اوتاته درځغلو

وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْا رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰى

اوخدمت لپاره حاضريږو، اواميدواريو ستا د رحمت، او بيريږو

عَــذَابَكَ اِنَّ عَذَابَــكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ

ستا د عذاب څخه، بیشکه ستا عذاب د کافرانو لپاره دی .

پاملرنه : دا خبره یاد لرئ چي د رمضان په میاشت کښې وتر لمونځ د تراویحو دلمانځه څخه وروسته په امام پسي په جماعت سره کیږي، په دریو سره رکعتو کښې امام په زوره قرائت وایې مګر مقتدی پټه خوله وي هر کله چي امام په دریم رکعت کښې قرائت ختم کړي نو په الله اکبر ویلو سره دي لاسونه غوږو ته پورته کړي او بیادي یې تر نامه لاندي ونیسي ،او ورپسې دي امام او مقتدی دواړه دعاء قنوت ووایې ، وروسته دي په الله اکبر ویلو سره رکوع وکړي . مګر د رمضان دمیاشت څخه ماسوا په نورو ورځو کښې وتر بیله جماعته ادا کیږي .

# اية الكرسى

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۚ لَا تَاْخُذُهٗ

الله هغه ذات دی چي دهغه ماسوا بل معبود نسته، هغه ژوندی اوقائم دی

سِنَةٌ وَّلَانَوْمٌ ۭ لَهٗ مَافِي السَّمٰوٰتِ وَمَافِي

هغه ته نه پر کالي راځي اونه خوب، هغه لره دي څه چي په

الْاَرْضِ ۭ مَنْ ذَالَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا

اومځکو کي دي، څوک دی چي دهغه د اذن بغير دهغه سفارش وکي

بِاِذْنِهٖ ۭ يَعْلَمُ مَابَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَاخَلْفَهُمْ ۚ

هغه ته معلوم دي کوم څه چي دخلګوپه مابين کي پيښيږي اوڅه چي دهغوئ نه

وَلَايُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖٓ اِلَّا بِمَاشَاۗءَ ۚ

پس کيدونکی دی، احاطه نسي کولای په هيڅ سره دهغه دمعلوماتونه مګرڅومره چي وغواړي

وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ

دهغه کرسي آسمانونه اومځکي باندي حاوي ده

وَلَايَئُودُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ۝

او دهغوئ حفاظت هغه نه ستړي کوي او هغه عاليشان عظمت والادی

# فضائل

دهر فرض لمانځه وروسته آية الکرسي ويونکی د يوه لمانځه څخه تر بل لمانځه پورې دالله په حفاظت کښې وي ، په يو بل حديث مبارك کښې دي چي کوم سړی په هر لمانځه پسې آية الکرسي وايې د مړکيدو سره به دجنت په نعمتونو کښې داخل سي ، حصن حصين ، طبراني.

# دتراويح لمونځ

د رمضان المبارك په مياشت کښې د ماخستن دلمانځه وروسته او دوتر لمانځه مخکښې چي کوم شل رکعته لمونځ کيږي هغه ته صلوة تراويح وايې ، داسنت مؤکد دي ، افضل دادی چي په يوه يوه سلام سره دوه دوه رکعته وکړي اود هرو څلورو رکعتو وروسته په قدر د څلورو رکعتو

کښېنستلو سره درود شریف او تسبیح ویلو کښې وخت تیر کړي ، د تراویح لمونځ په جماعت سره ادا کول بهتر دی ، او یوازي کول یې هم جائز دي.

# تسبیح تراویح

| |
|---|
| سُبْحٰنَ ذِيْ الْمُلْكِ وَالْمَلَكُوْتِ سُبْحٰنَ |
| پاک دی خاوند د پادشاهۍ د مځکي او آسمانو ، پاک دی |
| ذِي الْعِزَّةِ وَالْعَظْمَةِ وَالْهَيْبَةِ وَالْقُدْرَةِ |
| خاوند د عزت، بزرګۍ، هیبت، قدرت |
| وَالْكِبْرِيَآءِ وَالْجَبَرُوْتِ سُبْحٰنَ الْمَلِكِ |
| لویې او خاوند د دبدبې، پاک دی پادشاه |
| الْحَيِّ الَّذِيْ لَايَنَامُ وَلَايَمُوْتُ سُبُّوْحٌ |
| ژوندی دی چي نه بیدیږي او نه مړ کیږي ، ډیر پاک |

قُدُّوْسٌ رَبُّنَا وَرَبُّ الْمَلٰئِكَةِ وَالرُّوْحِ ط

او ډیر سپیڅلی دی زموږ رب او رب د ملائکو او رب د روح

اَللّٰهُمَّ اَجِرْنَا مِنَ النَّارِ ط يَا مُجِيْرُ يَا مُجِيْرُ يَا مُجِيْرُ

الهي موږ ته د دوږخ څخه پناه راکړې اي پناه ورکونکې......

# د جنازې لمونځ

د جنازې دلمانځه پنځه شرطونه دي :

۱. د مړي مسلمان کیدل .

۲. د مړي پاکیدل .

۳. د مړي د کفن پاکیدل .

۴. د مړي دستر پټول .

۵. د مړي دلمونځ ګزار مخته کیدل .

نیت : مخ پر قبله کیدو سره په زړه کښې دي دا نیت وکړي چي څلور تکبیره دجنازې لمونځ ثناءوایم د الله دپاره ، درودوایم پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندي دعاءکوم

په دې مړي پسې ، که دا الفاظ په ژبه سره ووايې نو ښه ده .

او په عربي ژبه که يې ووايي ډيره بهتره ده چې لاندي دی :

| |
|---|
| نَوَيْتُ اَنْ اُؤَدِّيَ لِلّٰهِ تَعَالٰی اَرْبَعَ تَكْبِيْرَاتِ |
| نيت مي دي ددي چي ادا كم د پاره د الله تعالي څلور تكبيره |
| الصَّلٰوةِ وَالْجَنَازَةِ اَلثَّنَا لِلّٰهِ تَعَالٰی وَالصَّلٰوةِ |
| د جنازي د لمانځه ثنا د پاره دالله تعالي اودرود |
| لِلرَّسُوْلِ وَالدُّعَاءُ لِهٰذَالْمَيِّتِ اِقْتَدَيْتُ بِهٰذَا |
| د پاره د رسول ص او دعا دپاره ددې حاضر ميت اقتدا مي ده په دي |
| الْاِمَامِ مُتَوَجِّهًا اِلٰى جِهَةِ الْكَعْبَةِ الشَّرِيْفَةِ |
| امام پسي مخامخ كيدونكي يم وطرفته د كعبې شريفي |

بيا دي الله اكبر ووايي بيا دي ثناء ووايې :

| |
|---|
| سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ |
| اې الله ستا ذات پاک دی او ثنا ده تالره او بركت والا دی ستانوم |

وَ تَعَالٰى جَدُّكَ وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ ط

او ستا شان لوړ دی او ستا تعریف ډیر لوی دی او ستا څخه ماسوا بل معبود نسته

د دوهم تکبیر څخه وروسته دې درود شریف ووایي او د دریم تکبیر وروسته دې دا دعاء ووایي

# د بالغ سړي او ښځې لپاره

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا

الهي زموږ هر ژوندی او هر مړی وبخښې، او زموږ هر حاضر وغائب وبخښې

وَ صَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنْثَانَا ط

او زموږ هر کوچنی او لوی وبخښې، او زموږ نارینه او ښځینه وبخښې .

اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَى الْاِسْلَامِ ط

الهي په موږ کي چي څوک ژوندي دي هغه په اسلام کي ژوندي لري

وَمَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَى الْاِيْمَانِ ط

او په موږ کي چي چا وفات کړی دی نو هغه په ایمان سره وفات کړې .

او بيا دي د څلورم تکبير په ويلو سره دواړه طرف ته سلام

وګرځوي .

۱. **مسئله** : د جنازې دلمانځه وروسته دلاسو پورته

کولو سره دعاء غوښتل جائز نه دي .

۲. **مسئله** : دجنازې و هديرې ته وړلو په وخت کي په

لوړ اواز سره ورد او کلمه هم جائز نه ده مګر په کرار

او په زړه کي کلمه شريف ويلو کښې څه پروا نسته .

فتاوى عالمګيري.

## د نابالغ هلک (مړي) لپاره دعاء

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا |
| الهي داهلک زموږ لپاره مخکي سامان کونکی جوړ کړي او داجر مؤجب |
| وَّ ذُخْرًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا ط |
| کړي او پر وخت کار راتلونکی يې جوړ کړې ،دی زموږ لپاره سفارش کونکی کړې |

چې سفارش يې منظور سي جوړ کړې

وَاَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ

او باعزته يې كړي اوپراخ كړي دده ميلمستيا او قبر او دي پريولي

بِالْمَاۤءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرْدِ وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا

په اوبو، واوري اوږلي سره او پاک يې کړي د ګناهونو څخه

كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْاَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ

لکه څرنګه چي تا پاكه كړي ده سپينه كپړه د نيل څخه

وَاَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ وَاَهْلاً خَيْرًا

او ور كړې په عوض كي ده ته ښه كور دده تر كور، او اهل بهتره

مِنْ اَهْلِهِ وَ زَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ وَادْخِلْهُ

دده تر اهل، او جوړې بهتره دده تر جوړې ، او دى داخل كړي

الْجَنَّةَ وَاَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ[۵]

جنت ته ، او ده ته پناه ور كړي د قبر دعذاب څخه او ددوږخ دعذاب

# د نابالغي انجلۍ (مړي) لپاره دعاء

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا اَجْرًا

الهي دا انجلۍ زموږ لپاره مخکي سامان کونکی جوړه کړې او داجر مؤجب يې

وَّ ذُخْرًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً ط

کړې او پر وخت کار راتلونکی يې جوړه کړې ،دی زموږ لپاره سفارش کونکې کړې

# هديرې ته دننوتلو دعاء

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ ط يَغْفِرُ اللّٰهُ

اې د قبرو خاوندانو پر تاسي دي سلام وي ، الله دي بخښه وکړي

لَنَا وَلَكُمْ اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرِ . ترمذی

موږ ته او تاسي ته ، تاسي زموږ تر مخه ياست او موږ ستا پسې يو .

# په قبر کښې د مړي اېښودلو په وخت دعاء

بِسْمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ط

دالله په نامه سره او د رسول الله په طريقه دی سپارم . ترمذي

# قبر ته دخاورو اچولو په وخت کې دعاء

| |
|---|
| مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ وَمِنْهَا |
| موږ تاسي ددې ځخه پيدا کړي ياست او همدې ته |

| |
|---|
| نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى ط. |
| مو يو وار بل راولو. |

د مړي دفن کولو ځخه وروسته دي يو سړى د مړي د سر خواته ودريږي او دسورة بقرة اولنى ركوع تر اولئك هم المفلحون پوري اودوهم سړى دي دپښو خوا ته ودريږي او دسورة بقرة اخري ركوع د آمن الرسول ځخه تر آخره پوري ووايي . اثار السنن .

او بغير دلاس پورته كولو ځخه دي دمړي لپاره دعاء وغواړي

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ |
| الهي دى وبخښې او رحم پر وكړې او عافيت ورته وكړې او معاف يې |

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبُّهُ وَاَنْتَ خَلَقْتَهُ وَ اَنْتَ

اې الله ته دده پروردګار یې او تا دی پیدا کړی دی او تا ده ته

هَدَيْتَهُ لِلاِسْلَامِ وَاَنْتَ قَبَضْتَ رُوْحَهُ

هدایت کړی دی داسلام ، او تا دده روح قبض کړې ده .

وَاَنْتَ اَعْلَمُ بِسِرِّهِ وَعَلَانِيَتِهِ جِئْنَا

او ته عالم يې دده په ظاهر او باطن ، موږ راغلي یو

شُفَعَاءَ فَاغْفِرْلَهُ . مشکوة

دده شفاعت کونکي نو ته ده ته بخښنه وکړې .

# داخترولمونځ

د دواړو اخترونو لمونځ واجب دی او پر کومو خلګو چي دجمعې لمونځ فرض دی پر هغو داختر لمونځ هم واجب دی او کوم شرطونه چي د جمعې دلمانځه دي هغه داختر دلمانځه هم دي خو داختر دلمانځه خطبه نه فرض او نه مخکښي ده بلکه دلمانځه څخه وروسته خطبه ويل سنت ده ، د دواړو اخترونو لمونځ دوه دوه رکعته دي د دې دواړو لمنځو لپاره اذان او تکبير(اقامت) نه کيږي .

داختر دلمانځه نيت : نيت داسي وکړه چي زه د عيدالفطر (کوچني اختر) يا عيد الاضحی (لوی اختر)دوه رکعته واجب لمونځ په شپږ زائد تکبيراتو سره دې امام پسي اداکوم .

د لمانځه طريقه : د نيت سره سم دي د الله اکبرپه ويلو سره لاس وتړي او ثناء دي ووايې ، بيا دثناء څخه وروسته دي الله اکبر ووايې دواړه لاسونه دي پريږدي بيا دي دوهم ځل لپاره لاسونه غوږو ته په پورته کولو سره الله اکبر ووايي

اولاسونه دي پريږدي بيا دريم ځل لاسونه غوږونو پوري
پورته کولو سره الله اکبر ووايي اولاسونه دي وتړي بيا دي
تعوذ،تسميه ،سورة فاتحه او د يوه سورة په ويلو سره رکوع
وکړي او يو رکعت پوره کړي ، ددې څخه وروسته دوهم
رکعت دپاره ولاړيږي بيا دي امام قرائت وکړي ، قرائت څخه
فارغيدو سره سم دي لاسونه و غوږو ته دپورته کولو سره
سم دي الله اکبر ووايي اولاسونه دي پريږدي بيا دغسي دوهم
او دريم تکبير دي ووايي اولاسونه دي پريږدي او بيا بيله
لاسو پورته کولو دڅلورم تکبيرپه ويلو سره دي رکوع ته
ولاړسي او دقاعدې مطابق دوهم رکعت دي پوره کړي بيا
دي امام ودريږي خطبه دي ووايي او ټول خلګ دي پټه خوله
په ناستي سره خطبه واوري ، د اختر دلمنځو دوې خطبې دي
او ددواړو په مابين کښې کښينستل سنت دي ، لمانځه ته پر
يوې لاري راتلل او پر بلي لاري تلل هم سنت دي ، د اختر
دلمنځو مخکښې په عيدګاه يا کور کښې نفل لمونځ کول

جائز نه دي، عيدګاه ته دتللو په او بيرته راتللو په وخت کښې دي دغه تکبير وايې :

(الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر ولله الحمد).

# د جمعې لمونځ

د جمعې لمونځ فرض دی بلکه د ماپښين دلمانځه څخه ددې تاکيد زيات دی، دجمعې په ورځ دماپښين لمونځ نسته بلکه دجمعې لمونځ دهغه پر ځای ګرځول سوی دی ، دجمعې لمونځ پر هر آزاد، عاقل، بالغ، روغ جوړ او مقيم سړي باندې فرض دی ، دجمعې لمونځ دوه رکعته دی چې يوازې په جماعت سره اداکيدلای سي،که چيرې د يو چا څخه دجمعې لمونځ تير سوی وي نو بيا دماپښين لمونځ اداکول پکار دي ، د جمعې دلمانځه مخکښې دې امام دوې خطبې وايي خطبه ويل او اوريدل واجب دي ، غسل کول، پاك صاف او نوي کالي اغوستل او خوشبو لګول او بيا مسجد ته تلل سنت دی .

# نفل لمنځونه

دتهجد لمونځ : د دې لمانځه وخت دماخستن څخه شروع بيا تر صبح صادق څخه مخکښې پورې دی ، دا لمونځ په دوه دوه رکعته کولو سره د څلورو رکعتو څخه تر دوولسو رکعتو پورې دی .

دتهجد لمونځ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنت دی، په احاديث مباركه كښې د دې لمانځه ډير فضائل او ښيگڼې راغلي دي ، حضرت نبي كريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل : د فرضو لمنځو وروسته دتهجدو مرتبه ده .

صوفياء اوعلماء كرام فرمايې چې هيڅ سړی د تهجد دلمانځه بغير د ولايت درجې ته نسي رسيدلای .

داشراق لمونځ : هر كله چې لمر راوخيژي او لږ څه لوړ سي او دلمر ژړ والی ختم سي نو دوه يا څلور رکعته داشراق لمونځ دې وکړي چې ثواب يې په احاديثو کښې د يوه مقبول حج او عمرې بيان سوی دی.

**دڅابښت لمونځ** : ددې لمانځه وخت د سهار د نهو يالسو بجو څخه شروع او بيا تر زوال پوري دي . دا لمونځ د رزق د پراخۍ سبب دی .

**د اوابين (توبه ګارو) لمونځ** : د ماښام دلمانځه څخه وروسته د اوابين لمونځ کيږي ، ددې لمانځه تعداد کم تر کمه شپږ رکعته دی ، ددې په کولو سره د دوولس کالو عبادت ثواب حاصليږي .

**صلوة التسبيح** : په احاديثو کښې ددې لمانځه هم ډير زيات فضائل ذکر سوی دي، په ځينو احاديثو کښې راځي چي الله تعالی ددې لمانځه په برکت مخکنۍ، وروستنۍ، نوي اوزړې، په هيره او اراده سره ، کوچنۍ اولوی، پټي اوښکاره ټولي ګناوي بخښي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم يو ځل خپل اکا حضرت عباس رضي الله عنه ته ارشاد وفرمايه ، که کولای سې نو هره ورځ دا لمونځ کوه، او که هره ورځ نه وي نو په هره مياشت کي يو ځلي ، او که په مياشت کي هم نسي کيدلای نو په

کال کي يو ځل او که داهم نسي کيدلای نو په ټول عمر کي

يې يو ځلي وکړه.

**ترکيب**: ددې لمانځه د کولو ترتيب دادی: څلور رکعته دنفل نيت تړلو سره مخکښې دي ثناء (سبحانك اللهم ...) ووايې، ددې څخه وروسته دې (سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ) پنځلس ۱۵ واره ووايې، بيا تعوذ، تسميه، سورة فاتحه او سورة ويلو څخه وروسته دي لس واره دغه تسبيح ووايې، بيا دې رکوع وکړي او په رکوع کښې دي هم دغه تسبيح لس واره ووايې، کله چي درکوع څخه راپورته سو د تسميع اوتحميد څخه وروسته دي لس واره بيا دغه تسبيح ووايې، بيا دې سجدې ته ولاړ سي په سجده کي دي لس واره دغه تسبيح ووايې، بيا د دوو سجدو په مابين کښې ناستي کي دي هم لس واره دغه تسبيح ووايې، بيا دي دوهمه سجده وکړي او په دوهمه سجده کښې دي هم لس واره دغه تسبيح ووايې، او بيا دي ولاړ سي او همداراز دي دوهم رکعت داول پشان وکړي چي په هر رکعت کښې ۷۵ واره

تسبیحات سول، چي په څلورو رکعتو کښې درې سوه واره سول ، دا لمونځ دمکروه وختو څخه علاوه هر وخت چي وغواړي کولای سي خو غوره وخت یې دماپښین دلمانځه مخکي دي او یا دجمعې په ورځ دجمعې دلمانځه مخکي .

**سجده سهوه** : سهوه معنی هیریدل، کله کله په لمانځه کښې کمي اوزیاتي راځي، ځیني داسي وي چي دهغو ددفع کولو لپاره یعني پوره کولو لپاره دلمانځه په آخري ناسته کښې دیوه سلام په ګرځولو سره دوې سجدې وکړي دې عمل ته په شریعت کښې سجده سهوه وایې، ددې طریقه داده : چي په آخري ناسته کښې دالتحیات ویلو څخه وروسته یوې خواته سلام وګرځوي او بیا د تکبیرپه ویلو سره پرله پسې دلمانځه په شان دوې سجدې وکړي ، دوهم وار دې التحیات، درودشریف او دعاء ووایي او سلام دې وګرځوي، که دسجده سهوي څخه مخکښې التحیات درود اودعاء ووایې نو هم جائز ده او که یو څوك دواړو خواوو ته په سلام

ګرځولو سره وروسته سجده سهوه وکړي هم جائز ده . په دې شرط چې سينه دقبلې څخه ونه ګرځوي او يا هم دچا سره خبري ونه کړي .

په کومو صورتونو کښې سجده سهوه واجب کيږي

١. هر کله چې دلمونځ کونکي څخه په هيره سورة فاتحه هيره سي .

٢. هر کله چې دلمونځ کونکي څخه په وتر کښې دعاء قنوت هير سي .

٣. کله چې دلمونځ کونکي څخه په تشهد کښې ناسته هيره سي، ددې تشهد څخه مراد درمياني تشهد دی ځکه چې د درې يا څلور رکعته لمونځ کي درمياني تشهد واجب دي او يا هم د درمياني تشهد څخه وروسته اللهم صل علي محمد ووايې يا دومره وخت پته خوله ناست وي .

٤. هر کله چې يو لمونځ کونکی داختر دلمانځه تکبيرونه پريږدي بيا هم سجده سهوه کول واجب ده .

۵. هر کله چي امام په جهري لمنځو کښې اخفا او يا په خفي لمنځو کښې جهر وکړي.

۶. لمونځ کونکی فرض لمونځ مکرر وکړي مثلا دوې رکوعې وکړي يا درې سجدې وکړي نو سجده سهوه کول واجب ده.

۷. هر کله چي ديو واجب کيفيت بدل سي نو سجده سهوه دې وکړي مثلا د سورة فاتحې ځخه مخکښې سورة ووايي.

۸. لمونځ کونکی ته دلمانځه درکعتونو په تعداد کښې شك پيداسي نو هغه دي کم از کم مقدار چي يقيني دی هغه اصل ګرځولو سره په هغه دې باقي لمونځ مکمل کړي او په آخر کي دي سجده سهوه وکړي، که يو لمونځ کونکی د ځلورو رکعتو قصد وکړي بيا دپنځم رکعت لپاره ودريږي او سلام نه وګرځوي او هغه اولنۍ قعده خيال کړي خو وروسته ورپه ياد سوه نو ده ته پکار ده چي دپنځم رکعت دسجدې کولو

ځخه مخکي بيرته کښيني او سجده سهوه وکړي که
هغه پنځم رکعت سجدې يو ځای سو نو دهغو سره دي
يو رکعت بل هم وکړي دغسي به دهغه لمونځ پوره
سي اوپه آخر کي دي سجده سهوه وکړي څلور
رکعته به فرض سي او دوه رکعته نفل .

دسجدې سهوي يوه لويه اساني داده چي په دې سره لمونځ کونکی دخپل لمانځه د کمي او زياتي اصلاح او صحت کوي او دغسي دلمانځه دنقص تلافي کيږي ، شيطان چي مسلمانان په لمانځه کښې خطاباسي او ځيني هيروي يې نو پر هغه دلعنت کولو همدا طريقه ده ، همدغسي مسلمان لمونځ کونکی د خپل رب په مخکښې نوري دوې سجدې کوي چي دشيطان دناراضګی او خفګان سبب کيږي هغه په خپل کار کښې ناکام سي الله دلمونځ کونکی دسجدو په برکت د هغه هيره او خطا معاف کړي .

# مسنونه دعاوي

## مسجد ته د داخلیدو دعاء

هر کله چي مسجد ته ننوزي نو اول دي راسته پښه په مسجد کښې کښېږدي بیا دي چپه پښه کښېږدي او درود شریف ویلو سره دي دا دعاء ووایي ، او ددعاء څخه وروسته دي دمستحب اعتکاف نیت هم وکړي :

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ . مسلم

اې الله زما لپاره ستا درحمت دروازې خلاصي کړې .

## د مسجد څخه دوتلو دعاء :

هر کله چي دمسجد څخه دباندي راوځي نو اول دي چپه پښه دباندي کښېږدي او بیا راسته پښه اول دي درود شریف ووایې او بیا دې دا دعاء :

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ وَرَحْمَتِكَ

اې الله زه ستا څخه ستا دفضل او رحمت سوال کوم .

## د اوداسه شروع کولو دعاء .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چې ډير مهربان او زيات رحم والا دی .

## د اوداسه په مابين کښې دعاء

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ ذَنْبِيْ وَوَسِّعْ لِيْ فِيْ دَارِيْ

اې الله زما ګناه وبخښې ، او زما په کور کښې پراخي راولې

وَبَارِكْ لِيْ فِيْ رِزْقِيْ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ

او برکت واچوې زما په رزق کښې . اې الله ما وګرځوې د

التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ نسائي، ترمذي

توبه ګارو څخه ، او ما وګرځوې د پاکو بندګانو څخه .

## د اوداسه وروسته دعاء

اَشْهَدُ اَنْ لَااِلٰهَ اِلَااللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ

زه شاهدي اداکوم چې نسته لائق دعبادت مګر يوازې يو الله ،نسته شريک يې څوک

وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ اَللّٰهُمَّ

او زه شاهدي اداکوم چي محمد ص دهغه بنده او رسول دی ، الهي

اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ

ما وګرځوې د توبه ګارو څخه او ما وګرځوې د پاکو بندګانو څخه

سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَااِلٰهَ

پاكي دي وي تالره ، او ټول تعریفونه تالره دي ، زه شاهدي اداکوم چي

اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ .

نسته لائق دعبادت مګر ته زه ستا څخه معافي غواړم او تاته توبه کاږم

# د اذان وروسته دعاء

اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلٰوةِ

اې پروردګاره ددې پوره دعوت او قائمیدونکی لمونځ

الْقَائِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ

حضرت محمد ص ته وسیله او فضیلت عطا کړې

وَابْعَثْهُ مَقَـــامًا مَحْمُوْدَانِ الَّذِيْ وَعَدْتَهُ

او ده ته هغه مقام محمود ورکړه چي تا ورسره د هغه وعده کړي ده

اِنَّكَ لَاتُخْلِفُ الْمِيْعَادَ

بیله شکه ته د وعدې خلاف ورزي نه کوې.

## د روژې نیولو نیت

وَ بِصَوْمِ غَدٍ نَوَيْتُ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ

او ما د رمضان د سبا د روژې نیت وکړی.

## د روژې ماتولو دعاء

اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ

اې الله ما ستا دپاره روژه ونیوله او ستا په رزق سره یې ماتوم.

د رمضان المبارك په شپو کي دا دعا وایاست

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ

اې الله ته عفوه کونکی یې او عفوه خوښوې نو ما ته عفوه وکړې

عَنَّا يَا غَفُوْرُ يَا غَفُوْرُ يَا غَفُوْرُ.

اې بخښونکې ذاته، اې بخښونکې ذاته، اې بخښونکې ذاته.

# د بیدیدلو په وخت کې دعاوې

هر کله چې د بیده کیدو اراده وکړې اودس وکړه او خپله بستره درې واره وڅنډه بیامخ پر قبله پر راسته طرف راسته لاس تر سر لاندې کړه اوپریوزه درې واره دلاندې دعاوو څخه یوه او یا ټولې ووایه:

اَللّٰهُمَّ قِنِيْ عَذَابَكَ يَوْمَ تَجْمَعُ عِبَادَكَ

اې خدایه ما دخپل عذاب څخه وساتې په کمه ورځ چې ته خپل بندګان جمع کړې

اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيٰى

اې خدایه زه ستا په نوم اخستو سره مرم او ژوندې کیږم

ددي څخه ماسوا ۳۳ واره سبحان الله ، ۳۳واره الحمدلله او ۳۴واره الله اکبر ویلو سره ټول بدن باندي دم کړئ او دا شیان هم وواياست :

(۱) **آية الكرسي**: ددې په ویلو سره دالله د طرف څخه ټوله شپه یو محافظ فرشته پر هغه مقرره وي او هیڅ شیطان هغه ته نه سي راتللای .

(۲) **سورة فاتحه .**

(۳) **سورة اخلاص .**

(۴) **سورة کافرون .**

(۵) **دعاء استغفار .** : دري واره استغفر الله الذي لااله الا هوالحي القيوم واتوب اليه . .،

(۶) امن الرسول څخه تر ختم سورة پوري . سورة بقرة .

## که په خوب کښي بیریږي او یا خراب خوب ویني نو دا دعاء دي وایي :

أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ

زه دالله پناه غواړم د رټلي شوي شيطان څخه.

وَمِنْ شَرِّ هٰذِهِ الرُّؤْيَا

او ددې خوب د بدۍ څخه

خوب دې چاته نه وايې پورتنۍ دعاء دې ووايې او طرف دې بدل کړې داخوب به ورته هيڅ ضرر نسي رسولای انشاءالله.

## دخوب څخه د راکښېنستلو دعاء

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِيْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا

ټول تعريفونه الله لره دي چي هغه زموږ د وژلو سره بيا ژوند راکړئ

وَ اِلَيْهِ النُّشُوْرُ . بخاري ومسلم

او زموږ د هغه وطرف ته ور تلل دي .

## بيت الخلاء ته د تلو دعاء

هر کله چي بيت الخلا ته ځې نو د داخليدو څخه مخکي بسم

الله ووايه او بيا دا دعاء ووايه :

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْخُبْثِ وَالْخَبَائِثِ

اې الله زه ستا پناه غواړم د خبيث جنات څخه نر وې او که ښځه . مشکوة

**مسئله** : په بيت الخلا کښې اول چپه پښه داخله کړه او

قبلي طرف ته مخ يا شا مه کوه دناستي په وخت کي .

## د بيت الخلاء څخه د وتلو دعاء

هر کله چي دبيت الخلاء څخه راوځي نو اول راسته پښه راوباسه او دا الفاظ ووايه :

غُفْـــــرَانَكَ

اې الله ستا څخه دبخښني سوال کوم .

ددې وروسته دي دا دعاء ووايې :

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِيْ اَذْهَبَ عَنِّيَ الاَذٰى وَعَافَانِيْ

حمد دي وي الله لره چي زما څخه يې تکليف رسونکي ليرې کړل او ماته يې ارام

## د سهار او ماښام دعاء

بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِيْ لاَيَضُرُّ مَعَ اِسْمِهِ شَيْئٌ فِي

دالله په نامه شروع کوم چي دهغه په نامه سره هيڅ شی ضرر نسي رسولای په

الْاَرْضِ وَلاَ فِي السَّمَاءِ وَهُوَالسَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ط

مځکه کښې وي او که په آسمان کي ،او هغه اوريدونکی او پوه ذات دی

**فائده** : کوم انسان چي سهار ماښام درې واره دغه کلمات وايي نو هغه ته به هيڅ شی ضرر نسي رسولای .

# د فرض لمانځه وروسته دعاء

بِسْمِ اللهِ الَّذِيْ لَااِلٰهَ اِلاَّ هُوَ الرَّحْمٰنُ

په نامه دهغه الله چې دهغه ماسوا بل معبود نسته هغه مهربان او رحم

الرَّحِيْمُ اَللّٰهُمَّ اذْهَبْ عَنِّيَ الْهَمَّ وَالْحُزْنَ

والا دی ، اې الله زما څخه رنځ او فکر لیرې کړې .

هر کله چې فرض لمونځ وکړې سلام وګرځوې نو راسته لاس دې پر سر کښېږدې او پورتنۍ دعاء دې ووايې . او بیا دې درې واره استغفار (استغفر الله الذي لااله الاهو الحي القيوم واتوب اليه) ووايې . او هم دې لاندینۍ دعاء ووايې :

اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلٰى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ

اې الله زما مرسته وکړې چې ستا ذکر وکړم او ستا شکر اداء کړم

عِبَادَتِكَ . ابوداؤد

او ستا په ښه شان عبادت وکړم.

**فائده** : رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت معاذ رضي الله عنه ته وفرمایل: چي دا دعاء دهر لمانځه وروسته مه پرېږده . ابوداؤد، نسائي

## دوتر لمانځه وروسته دعاء

| |
|---|
| سُبْحٰنَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ . حصن |
| پاکي بیانوم دالله پادشاه چي ډېر پاک دی . |

هر کله چي وتر لمونځ وکړي نو درې واره دې داد عاء ووايي ، په دریم وار دي په لوړ اواز سره ووايي او دقدوس واو دي ښه اوږد کړي .

## دڅابست لمانځه وروسته دعاء

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ بِكَ اُحَاوِلُ وَبِكَ اُصَاوِلُ |
| اې الله زه ستا څخه د خپلو مقاصدو کامیابي غواړم ،ستا په مرسته |
| وَبِكَ اُقَاتِلُ . |
| پر دښمنانو حمله کوم او ستا په مرسته سره جهاد کوم . |

**فائده** : (۱) دهر فرض لمانځه وروسته ۳۳واره سبحان الله ۳۳واره الحمدلله او ۳۴واره الله اکبر ویلو دا فضیلت دی چي د ډیر صدقي کولو ثواب ورکول کیږي . بیهقي

**فائده** (۲) دهر لمانځه وروسته چي څوك آیة الکرسي وایي د هغه جنت ته دتللو کي به یوازي مرګ فاصله وي .

**فائده** (۳) : د فرض لمانځه وروسته څلور قل هم ویل پکار دي .

## د سهار اوماښام دلمنځو وروسته دعاوي

حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل : دسهار اوماښام د لمنځو څخه وروسته د یوچاسره د خبرو کولو څخه مخکي ۷ اووه واره دا دعاء وایاست :

| اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِي مِنَ النَّارِ |
|---|
| اي الله ما دجهنم د اور څخه محفوظ کړې . |

که په هغه ورځ یا شپه مړسي نو د دوږخ څخه به ضرور

خلاص سي ، په يو بل حديث کښې راغلي دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل : چي دسهار اومابښام دلمنځو وروسته چي پښې اړولو څخه بغير کوم سړی لس واره دا لاندينۍ دعاء ووايي نو دهغه لپاره د هر ځلي ويلو په بدله کي لس نيکۍ ليکل کيږي او لس ګناهونه يې دعملنامې څخه ليري کيږي او لس درجې يې لوړيږي او دخراب شي او شيطان څخه به محفوظ وي او دشرك څخه ماسوا بله ګناه به يې نسي هلاك کولای او هغه به دټولو خلګو څخه غوره وي . مشکوة .

## دعاء داده

لَاۤاِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ

دالله ماسوا بل دعبادت لائق نسته، دهغه هيڅوک شريک نسته .دهغه لپاره ملک دی

وَلَهُ الْحَمْدُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ

او دده لپاره ټول حمدونه دي دهغه په لاس کي ټول خير دی، هغه ژوندی

عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيْرٌ. ط

کوي او مړه کوي او هغه پر هر څه قدرت لرونکی دی.

د کور څخه دوتلو په وخت کي دعاء

بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ وَلَاحَوْلَ

دالله په نامه سره ووتلم او پر الله مي توکل وکړی، نسته دګناه څخه

وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ . مشكوة

دخلاصيدو او دعبادت کولو طاقت مګر دالله دطرفه.

کورته د داخليدو په وخت کي دعاء

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ وَالْمَخْرَجِ

اې الله زه ستا څخه ښه داخليدل او ښه وتل غواړم.

بِسْمِ اللّٰهِ وَلَجْنَا وَعَلَى اللّٰهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا

موږ دالله په نامه اخستلو سره داخل سوا وموږ پر الله توکل وکړی.

# بازار ته د داخليدو په وخت کي دعاء

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَـــــهُ

نسته لائق دعبادت مګر يو الله يوازي ، نسته شريک ده لره

لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ

هغه لره بادشاهي ده ، اوهغه لره حمدونه دي، ژوندي کول کوي او

حَـــــيٌّ لَايَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى

اوهغه ژوندی دي نه مړ کيږي ، دهغه په لاس کي خير دی اوهغه پر

كُلِّ شَيْئٍ قَدِيْرٌ ۝

هر شي باندي قادر دی .

**فائده** : په بازار کښې د پورتنۍ دعاء په ويلو سره الله تعالی لس لکه نيکۍ ليکي او لس لکه ګناهونه معافوي او لس لکه درجې يې لوړوي ، او دهغه لپاره په جنت کښې يو کور جوړوي . مشکوة

# په بازار کښې د رانیولو او خرڅولو په وخت کې دعاء

بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ

په نامه دالله ، اې الله زه سوال کوم ستاځخه د خیر ددغه بازار

السُّوْقِ وَخَيْرَ مَا فِيْهَا وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهَا

او دخیر د هغه څه چې په دغه کې دي، او پناه غواړم د شر څخه یې

وَمِنْ شَرِّ مَا فِيْهَا، اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ

او دهغه څه دشر څخه چې په دغه کې دي ، اې الله زه پناه غواړم

اَنْ اُصِيْبَ فِيْهَا يَمِيْنًا فَاجِرَةً اَوْ صَفْقَةً خَاسِرَةً

ددې څخه چې دلته په دروغو قسم اخلم او یا په معامله کښې تاوان وکم

## د سفر اراده کولو په وخت کښې دعاء

اَللّٰهُمَّ بِكَ اَصُوْلُ وَبِكَ اَحُوْلُ وَبِكَ اَسِيْرُ

اې الله زه ستا په مرسته پر دښمنانو حمله کوم او ستا په مرسته تدبیر کوم او ګرځم

## د کور څخه دسفر روانیدو یه وخت دعاء

بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ

په نامه دالله او پر توکل دالله .

ددې څخه وروسته دي دا دعاء ووايي

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ

اې الله ته زما ملګری یې په دې سفر کښې

وَالْخَلِيْفَةُ فِي الاَهْلِ . مسنداحمد

او زما وروسته زما د کورنۍ ساتونکی .

## پر سپرلۍ دسپریدو په وخت کي دعاء

سُبْحٰنَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا

پاکي دي وي هغه الله لره چي دا یې زموږ په قبضه کښې راکړی دی او

لَهُ مُقْرِنِيْنَ وَ اِنَّا اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ

موږ دانسو قبضه کولای ، او بیشکه زموږ درب طرف ته ورتګ دی .

**فائده**: هر کله چي سپور سي نو رکاب یا پائیدان باندي قدم ایښودلو په وخت کي دي بسم الله ووايي هر کله چي کښيني نو الحمدلله دي ووايي بیا دي پورتنۍ دعاء ووايي.

## طیاره یا کښتۍ کښې دسپریدو دعاء

| |
|---|
| بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرِيْهَا وَمُرْسٰهَا اِنَّ رَبِّيْ |
| دالله په نامه سره ددې تګ او دریدل دي په تحیق سره زما رب |
| لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ |
| بخښونکی او مهربان دی |

## منزل ته د رسیدلو په وخت کي دعاء

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّمَاخَلَقَ |
| دالله د پوره کلمو په واسطه دالله پناه غواړم دهغه دمخلوق دشر څخه |

**فائده**: ددې دعاء په ویلوسره هيڅ شی دهغه ځای څخه تر تللو پوري ضرر نسي در رسولای . مسلم.

## يو ښار يا منزل ته د داخليدلو په وخت کي دعاء

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنا فِيْهَا

اې الله ته موږ ته په دې کښې بر کت واچوې.

ددې څخه وروسته دي دا دعاء ووايې

اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا جَنَاهَا وَحَبِّبْنَا اِلٰى اَهْلِهَا

اې الله ته موږ ته ددې ميوې نصيب کړې، او ددې ځاى اوسيدونکو

وَحَبِّبْ صَالِحِيْ اَهْلِهَا اِلَيْنَا

په زړو کي زموږ محبت واچوې، اوددې ځاى دنيکو خلکو محبت زموږ په زړو کي واچوې

## د سفر څخه د واپسۍ دعاء

آئِبُوْنَ تَائِبُوْنَ عَابِدُوْنَ سَاجِدُوْنَ حَامِدُوْنَ

موږ بیرته تلونکي يو، توبه کونکي عبادت کونکي سجده کونکي اوحمد ويونکي يو.

## د خوراك اوڅيښاك په شروع کې دعاء

بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى بَرَكَةِ اللّٰهِ .مستدرك

ما دالله په نامه سره او دالله په بر کت سره خوراک شروع کړ.

که د ډوډۍ په شروع کې یې بسم الله هیره سي نو هر کله چي ور په یاد سي نو دا دعاء دي ووایې:

| |
|---|
| بِسْمِ اللّٰهِ اَوَّلَهُ وَ آخِرَهُ .ترمذي |
| شروع کوم د الله په نامه سره داوله څخه تر آخره پوري . |

## د بسم الله ویلو فائده :

په کوم خوراك کښې چي بسم الله ونه ویل سي شیطان په هغه خوراك کي موقع پیداکوي . مشکوة.

## دخوراک وروسته دعاء

| |
|---|
| اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِيْ اَطْعَمَنَا وَ سَقَانَا |
| حمد دي وي هغه الله لره چي موږ.تیې خوراک راکړئ او موږ یې اوبه کړو |
| وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ . |
| او موږ یې د مسلمانانو څخه وګرځولو . حصن حصین. |

## د دعوت خوړلو وروسته دعاء

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ اطْعَمْ مَنْ اَطْعَمَنِيْ وَاسْقِ مَنْ سَقَانِيْ |
| اې الله چاچي په ماوخوړل ته یې په هغه وخورې او چاچي اوبه کړم ته یې اوبه کړې |

**مسئله** : اوبه يا بل شی دي په ناستي سره وڅيښي او په دوو يا درو ساهو سره دي يې وڅيښي په لوښي کي دي ساه نه کاږي په شروع کي دي بسم الله ووايي او د څيښلو وروسته دي الحمدلله ووايي.

## د کوربه د کور ښخه دوتلو په وخت کي دعاء

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيْمَا رَزَقْتَهُمْ |
| اې الله د دوئ په رزق کښې بر کت واچوې |
| وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ |
| او دوئ ته بخښنه وکړې او پر دوئ رحم وکړې. |

## د مطالعي وروسته دعاء

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ انْفَعْنِيْ بِمَا عَلَّمْتَنِيْ وَ عَلِّمْنِيْ |
| اې الله ددې علم ماته نفع راکړې، کوم چي تا ماته راکړی دی او ماته عطا کړې |
| مَا يَنْفَعَنِيْ وَارْزُقْنِيْ عِلْمًا تَنْفَعَنِيْ بِهِ |
| هغه چي ماته نفع راکوي او ماته داسي علم راکړې چي زما دپاره فائده مند وي |

## د يو مصيبت په وخت كي دعاء

إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ .

بيله شكه موږ دالله يو او دهغه طرف ته رجوع كونكي يو .

## د دښمن څخه دبيري په وخت كي دعاء

اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِيْ نُحُوْرِهِمْ

اي الله موږ تا ددې دښمنانو په سينو كي تصرف كونكي جوړوو

وَ نَعُوْذُبِكَ مِنْ شُرُوْرِهِمْ . ابو داؤد

او ددوئ د شرارتونو څخه ستا پناه غواړو .

## د مريض دعيادت په وخت كي دعاء

لَابَاْسَ طُهُوْرٌ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ

هيڅ پرواه نسته دا ناروغي به تا دګناهونو څخه پاک كړي .

## بيا اووه واره دي د هغه دشفاء لپاره دا دعاء ووايي

اَسْاَلُ اللّٰهَ الْعَظِيْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

زه سوال كوم دالله څخه چي رب دلوى عرش دى

اَنْ يَشْفِيَكَ

چي تا ته شفا درکړي .

فائده : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : چي اووه واره ددې دعاء په ویلو سره به دمریض ضرور شفا کیږي مګر که دهغه مرګ راغلی وي نو هغه بیا جلا خبره ده ، مشکوة .

د باران لپاره دري واره دا دعاء وکړئ

اَللّٰهُمَّ اَنْزِلْ عَلٰى اَرْضِنَا زِيْنَتَهَا وَسَكَنَهَا

اې الله زموږ پر مځکه ددې زینت او سکون نازل کړې . حصن

## د باران اوریدو په وخت کي دعاء

اَللّٰهُمَّ صَيِّبًا نَافِعًا . بخاري

اې الله دا ډیر اوریدونکی او فائده مند کړې .

## د قرض ادا کیدو په وخت کي دعاء

اَللّٰهُمَّ اَكْفِنِيْ بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ

اې الله د حرام څخه دساتلو سره د خپل حلال په ذريعه زما

وَاَغْنِنِيْ بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ

كفالت وكړې او دخپل فضل په ذريعه ما دنورو څخه بې نياز كړې.

د قرض دار د قرض اداكولو په وخت كې دعاء

اَوْ فِيْتَنِيْ اَوْفِيْ اللّٰهُ بِكَ

تا زما قرض ادا كړو الله دې تاته په دنيا او آخرت كې څه دركړې.

## د شب قدر دعاء

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَفَاعْفُ عَنِّيْ

اې الله ته معاف كونكى يې او معافي خوښوې نو ما معاف كړې.

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَفَاعْفُ عَنِّيْ

اې الله ته معاف كونكى يې او معافي خوښوې نو ما معاف كړې.

## هر کله چي څوک سلام راوليږي نو سلام راوړونکي ته دي داسي ووايي :

عَلَيْكَ وَعَلَيْهِ السَّلَامُ

پر تا او پر هغه باندي دي سلامتيا وي.

## د مجلس څخه دولاړيدو دمخه دعاء

سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ

اې الله ته پاک يې او زه ستا حمد او تعريف بيانوم، زه شاهدي اداکوم چه

لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ

نسته لائق دعبادت ماسوا ستاڅخه، او تاته توبه کاږم.

**فائده :** که په مجلس کښې ښه خبري سوي وي نو دا کلمات به پر هغه مهر جوړ سي او که پالتو خبري يې کړي وي نو معاف به سي.

## د خپل محبوب شي د ليدلو دعاء

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِيْ بِنِعْمَتِهٖ تَتِمُّ الصّٰلِحٰتُ

حمد دي وي هغه الله لره چي د هغه په نعمتو سره هر شی مکمل سوی دی

## احسان کونکي ته دعاء

جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا

الله دي تا لره ددې خير بدله درکړي.

## هر کله چي زړه خرابونکی شی پیښ سي نو دادعاء

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ

تعریفونه دي وي الله لره په هر حال کي.

## د نوږلو په وخت کي دعاء

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

ټول تعریفونه الله پاک لره دي . .

## د نوږلو اوریدونکی به دا وایي.

يَرْحَمُكَ اللّٰهُ

الله دي پر تا باندي رحم وکړي.

# بیانوړي کونکی دی دا وواییي

يَهْدِيْكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحْ بَالَكُمْ . بخاري

الله دي تاسو ته هدايت وکړي اوستاسو حالت دي ښه کړي.

## د کالو اغوستلو دعاء

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِيْ كَسَانِيْ هٰذَا مِنْ

حمد دي وي هغه الله لره چي ماته يې دا لباس راواغوستی.

غَيْرِ حَوْلٍ مِّنِّيْ وَلَاقُوَّةٍ . مشكوة

بيله دخله زما دطاقت او قدرته.

فائده: د کالو اغوستلو په وخت کي پورتنۍ دعاء ويلو سره مخکني او وروستني ټول ګناهونه معافيږي او هرکله چي کالي وکاږي نو په بسم الله ويلو سره دي يې وکاږي.

## په هنداره کښې دکتلو په وخت کي دعاء:

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ حَسَّنْتَ خَلْقِيْ فَحَسِّنْ خُلُقِيْ

اې الله څرنګه چي تا زما صورت ښه پيدا کړی همدارنګه زما اخلاق هم ښه کړه

# دصحت، خيريت او عافيت دعاء

اَللّٰهُمَّ اهْدِنِي وَارْزُقْنِي وَعَافِنِي وَارْحَمْنِي

اې الله ماته هدايت وکړې، رزق راکړې او عافيت راته وکړې او رحم وکړې

# که څوک دا دعاء وايي نو د منکر نکير جواب به اسانه سي

رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّ بِالْاِسْلَامِ دِيْنًا

زه خوښ يم چې الله مورب، اسلام مودين

وَ بِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا

او محمد صلى الله عليه وسلم مو نبي دى.

فائده : کوم مسلمان چې سهار ماښام درې واره پورته کلمات ووايي نو دالله پر ذمه دى چې دقيامت په ورځ هغه راضي کړي.

## دنوي مياشتې ليدلو دعا

اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْيُمْنِ وَ الْاِيْمَانِ

اې الله ته دا ختلې لرې پر موږ باندې د برکت، ايمان

وَالسَّلَامَةِ وَالإِسْلَامِ وَالتَّوْفِيقِ لِمَا تُحِبُّ

سلامتيا او اسلام، او پر توفيق پر كوم څه چي ستا خوښ وي

وَتَرْضَى رَبِّي وَرَبُّكَ اللّٰهُ.

او ته په راضي كيږې. زما او ستا رب الله دى.

## د پوره مياشتي ليدلو دعاء

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّ هٰذَا.

زه دالله پناه غواړم ددې د شر څخه.

## د خره يا سپي اواز اوريدلو او يا هم د خرابي وسوسې راتللو په وخت كي دعاء

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

دالله پناه غواړم د شيطان رټل شوى څخه.

# د يو ښځې سره د نکاح کولو او يا د يو ثاروي رانيولو په وخت کي دعاء

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا |
| اي الله زه ستا څخه ددې دخير او ددې داخلاقو اوعاداتو |
| جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ وَ اَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهَا |
| د خير سوال کوم او ددې داخلاقو اوعادت دشر څخه |
| وَ مِنْ شَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ |
| ستا پناه غواړم. |

**فائده :** ددې دعاء په ويلو سره د ښځې د تندي وريښتان نيولو سره د برکت دعاوې وکړي او که اوښ يې رانيوی نو پورته د قب نيولو سره دي دغه ووايې . مشکوة .

## زوم ته د واده مبارکۍ ورکولو دعاء

بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكُمَا

الله دي تا ته برکت درکړي او په تاسو دواړو کي دي

وَ جَمَعَ بَيْنَكُمَا فِيْ خَيْرِهِ . مشكوة

دخير برکت واچوي.

## د ښځي سره د همبسترۍ کولو په وخت

بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطٰنَ وَ جَنِّبِ

زه دالله په نامه اخیستلو سره دا کار کوم ، اې الله ته موږ د شیطان

الشَّيْطٰنَ مَا رَزَقْنَا

ځخه وساتې او کوم اولاد چي موږ ته راکوې هغه دشیطان ځخه وساتې.

**فائده:** ددې دعاء ویل پکار دي ځکه چې د هم بستری کولو په وخت کې دالله دنامه اخیستلو څخه بغیر د شیطان نطفه هم دسړي دنطفې سره ننوځي . مظاهر حق .

## د همبسترۍ په وخت کې چې انزال سي نو دا دعاء دې په زړه کې ووایي :

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ لاَتَجْعَلْ لِلشَّيْطٰنِ فِيْمَا رَزَقْتَنِيْ نَصِيْبًا |
| اې الله کوم اولاد چې تا موږ ته راکړی دی هغه دشیطان څخه وساتې . |

**فائده:** په اوومه ورځ دې د کوچني نوم کښېږدي او عقیقه دې وکړي او هرکله چې کوچنی پیداسي نو دالله یونیك بنده ته دې یې بوځي چې هغه دعاء ورته وکړي او یو خرما یا بل شي دې ورکړي چې هغه یې وژووي او دکوچني په خوله کې یې ورکړي ، هر کله چې کوچنی خبرې شروع کړي نو دټولو څخه مخکې دې کلمه طیبه ور وښيي

## د مشورې کولو دعاء

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ اَلْهِمْنَا مَـــرَاشِدَ اُمُوْرِنَا وَعِذْنَـــا |
| اې الله موږ ته دخیر دکار تلقین وکړې . اوموږ وساتې |

مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا

دشرارت او دخرابو کارو څخه .

## داستخارې دعاء

حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي : رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته داستخارې لمونځ په داسي پابندي سره راښودی لکه څرنګه چي به يې دقرآن کريم يو سورة راښودی او داسي به يې فرمايل : چي هر کله تاسو ته يو کار درپيښ سي نو دوه رکعته نفل لمونځ کولو سره دا دعاء وغواړئ:

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ وَاَسْتَقْدِرُكَ

اې الله زه ستا دعلم په ذريعه ستاڅخه خير غواړم، اوستا دقدرت په ذريعه

بِقُدْرَتِكَ وَاَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيْمِ

ستاڅخه قدرت غواړم، اوستا دلوی فضل څخه سوال کوم

فَاِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَااَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَااَعْلَمُ وَاَنْتَ

بيشکه ته قادر يې او زه قدرت نلرم، اوته عالم يې او زه علم نلرم، اوته

عَلاَّمَ الْغُيُوْبِ اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ

پوه په غيبو يې، اې الله كه ستا په علم كښې دا كار

هٰذَا الاَمْرُ خَيْرٌ لِيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ

زما لپاره خير وي په دنيا او آخرت كښې

وَعَاقِبَةِ اَمْرِيْ فَاقْدِرْهُ لِيْ وَيَسِّرْهُ لِيْ

نو ما پر قادر كړې او ماته يې اسانه كړې.

ثُمَّ بَارِكْ لِيْ فِيْهِ وَاِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا

او بيا زما لپاره په دغه كې بركت واچوې، او كه ستا په علم كې وي

الاَمْرُ شَرٌّ لِيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ

چې دغه كار زما د دين او دنيا په تاوان كې دى،

اَمْرِيْ فَاصْرِفْهُ عَنِّيْ وَاصْرِفْنِيْ عَنْهُ وَاقْدِرْ

نو دغه زما څخه ليرې كړې او ما د دغه څخه ليرې كړې ،نو مقدر كړې

لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ اَرْضِنِيْ بِهِ

زما لپاره خير هر چيرې چې وي او بيا ما پر هغه راضي كړې.

# خطبې

# دنکاح خطبه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَ نَسْتَعِيْنُهٗ وَ نَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَ مِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنْ لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط يٰاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اتَّقُوْاللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَاتَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُسْلِمُوْنَ ○ يٰاَيُّهَاالنَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَ بَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّ نِسَاءً ج وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَاءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا يٰاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُواللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا

سَدِيْدًا○ يُصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْلَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ
وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا○ قَالَ
رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلنِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِيْ
فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ سُبْحٰنَ رَبِّكَ
رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ○ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ
○ وَالْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ○

## د جمعې اولنۍ خطبه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَلَى الذَّاتِ عَظِيْمِ الصِّفَاتِ سَمِيِّ
السِّمَاتِ كَبِيْرِ الشَّانِ○ جَلِيْلِ الْقَدْرِ رَفِيْعِ الذِّكْرِ
مُطَاعِ الاَمْرَ جَلِيْلِ الْبُرْهَانِ○ فَخِيْمِ الاِسْمِ عَزِيْزِ
الْعِلْمِ وَسِيْعِ الْحِلْمَ كَثِيْرِ الْغُفْرَانِ ○ جَمِيْلَ الثَّنَاءِ
جَزِيْلِ الْعَطَاءِ مُجِيْبُ الدُّعَاءِ عَمِيْمِ

الإِحْسَانِ۝سَرِيْعِ الْحِسَابِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ اَلِيْمِ
الْعَذَابِ عَزِيْزِ السُّلْطَانِ۝ وَنَشْهَدُ اَنْ لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ
وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ فِي الْخَلْقِ وَالاَمْرِ۝وَاَشْهَدُ اَنَّ
سَيِّدِنَا وَ مَوْلنَا مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ الْمَبْعُوْثُ
اِلَى الاَسْوَدِ وَالاَحْمَرِ۝اَلْمَنْعُوْتُ بِشَرْحِ الصَّدْرِ
وَرَفْعَ الذِّكْرِ۝وَصَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى اٰلِهِ وَاَصْحٰبِهِ
الَّذِيْنَ هُمْ خُلَاصَةُ الْعَرَبِ الْعُرَبَاءِ خَيْرَ الْخَلَائِقِ
بَعْدَالاَنْبِيَاءِ۝اَمَّابَعْدُ فَيَااَيُّهَاالنَّاسُ وَحِّدُوْا اللّٰهَ فَاِنَّ
التَّوْحِيْدَ رَاْسُ الطَّاعَاتِ۝وَاتَّقُوا اللّٰهَ فَاِنَّ التَّقْوٰى
مِلَاكُ الْحَسَنَاتِ۝وَعَلَيْكُمْ بِالسُّنَّةِ فَاِنَّ السُّنَّةَ
تَهْدِيْ اِلَى الاَطَاعَةِ وَمَنْ اَطَاعَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْ
رَشَدَ وَاهْتَدٰى۝ وَاِيَّاكُمْ وَالْبِدْعَةَ فَاِنَّ الْبِدْعَةَ

تَهْدِيْ اِلَى الْمَعْصِيَةِ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْ
ضَلَّ وَغَوٰى ۞ وَعَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَاِنَّ الصِّدْقَ
يُنْجِيْ وَالْكَذِبَ يُهْلِكُ ۞ وَعَلَيْكُمْ بِالْاِحْسَانِ فَاِنَّ
اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ۞ وَلَاتَقْنُطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ
فَاِنَّهُ اَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ ۞ وَلَاتُحِبُّوا الدُّنْيَا فَتَكُوْنُوْا
مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۞ وَاِنَّ نَفْسًا لَنْ تَمُوْتَ حَتّٰى
تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَجْمِلُوْا فِي الطَّلَبِ
وَتَوَكَّلُوْا عَلَيْهِ فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ ۞ وَادْعُوْهُ
فَاِنَّهُ مُجِيْبُ الدَّاعِيْنَ ۞ وَ اسْتَغْفِرُوْهُ يُمْدِدْكُمْ
بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ ۞ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ
۞ وَقَالَ رَبُّكُمْ ادْعُوْنِيْ اَسْتَجِبْ لَكُمْ اِنَّ الَّذِيْنَ
يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيُدْخِلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِيْنَ

○بَارَكَ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ فِي الْقُرْآنِ الْعَظِيْمِ ○وَنَفَعْنَا وَاِيَّاكُمْ بِالْاٰيٰتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ○اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ لِيْ وَلَكُمْ وَلِسَائِرِ الْمُسْلِمِيْنَ ○وَاسْتَغْفِرُوْهُ اِنَّهُ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ○

## د کوچني اختر خطبه

